د ښوونې او روزنې پوهنتون پښتو څانګه

# د لوېديځې نړۍ ادبيات

د رفيع الله ستانکزي په زيار

# لړلیک

سرلیکونه مخګڼه

سریزه.....................................................................................
هومیر.......................................................................................
هومرته منسوب اثار.......................................................................
یوروپیدز..................................................................................
یوروپیدز ته منسوب اثر...................................................................
ارستوفان.................................................................................
دارستوفان اثار او دهغه سیاسي
عقاید...............................................................
ویرژیل........................................................................................
دویرژیل ادبي
شهرت..........................................................................................
هوریس......................................................................................
دانګلستان ادبیات...
ویلیام شکسپیر...........................................................................
دشکسپیر اثار...............................................................
چارلس دیکستر...
ملتون.........................................................................................
جک لندن.....................................................
دجک لندن اثار
پایلونرودا......................................................................................
دفرانسي ادبیات........................................................................
مولیر..........................................................................................
په فرانسه کې دنیوکلاسیزم ظهور...............

بالزاک.......................................................................................

ویکتور هوگو......................................................................................

دوکتورهوگو اثار او

افکار.................................................................................

دالمان ادبیات.................................................

گویته................................................................................

دگویته افکار او اثار................................................

شیلر.....................................................................................

دشیلر لیکنې او اثار...............................................................................


چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي

چاویل چې په دریاب کې گوهر نه شته

# سریزه

یو له هغو وسیلو څخه چې په ملي او بین المللي کچه د بشري ټولنو د وګړو او انسانانو ترمنځ د ارتباط پیوند او دافکار او د انتقال او متقابل تفاهم له پاره مؤثر کار ورکوي ادبیات دي . ادبیات که په ملي او یا نړیواله سطحه وي د هنداري مثال لري . د یوې ټولنې په ادبیاتو کې دنړیوال فرهنګ مکمله څیره او ښه له ورایه څرګندیږي. د ادب په هنداره کې دغه ښودنه او نمایش دبشري ژوند له ډېرو اوږدو زمانو څخه راپیل شوي دي او وخت په وخت ترتیب او انسجام مومي د ادب دغه ځلوونکې آینه د انساني تمدن دراز راز پرمختګونو او وروسته پاتې والي د ځل او انعکاس له پاره وار په وار صافیږي او شفافیږي په دې اساس د نړۍ انسانانو یو دبل د علمي افکارو نظریاتو علمي تجربو او مختلفو فرهنګي لاسته راوړنو څخه پوهه او اګاهي پیداکوي .

همدارنګه دغه نظریات او افکار په ادبیاتو کې هم څرګندیږي او له دې لارې انعکاس مومي او دبېلو بېلو ټولنو د ادبي او فرهنګي ودې او پراختیا سبب ګرځي. چې بیا دغه ادبي او فرهنګي بډاینه په خپل وار سره دبشري نړیوالې ټولنې دتمدن او تهذیب پروسه ګړندۍ کوي . نو ددې له پاره چې د تاریخ په اوږدو کې دبېلو بېلو ټولنو د علمي او فرهنګي ارزښتونو څخه خبرتیا ترلاسه کړو ښه به داوي چې د نړۍ غوره او مترقي ادبیات ته خاصه پاملرنه راواړوو. په همدې خاطر ما د«لویدیځې نړۍ ادبیات» تر سرلیک لاندې دلته په دې رساله کې هڅه کړې ده چې د لویدیځې

نړۍ د لرغونې یونان، لرغوني روم،امریکا، فرانسې، المان او انګلستان ادبیات کوم چې واقعاً نړیوال ادبي او فرهنګي شهرت لري تر کتنې او څیړنې لاندې نیولي دي . په دغه برخه کې دیو شمېر پیژندل شویو شاعرانو او لیکوالانو پیژندنه د ادب او هنر په مورد د هغوی پاخه اندونه غوره اثار او په دغو غوره اثارو کې د ژوند دطبیعت ټولنیزې ترقي او د ټولنیز تحول دقانون مندیو په هکله د هغوی علمي تحلیلونه او تشریحات تشخیص او څرګند کړم ، ترڅو زموږ د افغاني ټولنې ادب خوښونکي او روڼ اندي د غوره ادبي او فرهنګي اثارو افکارو او د پراخه ادبي او هنري تجربو څخه خبرشي . ترڅو د خپلې ټولنې د ادبي ، هنري او فرهنګي پراختیا په کار کې د اسلامي اصولو او دټولنې دملي مصلحتونو په رڼا کې دادبي ابتکار او اجتهاد په وسیله فعاله ونډه واخلي او داسې ادبي او فرهنګي اثار تخلیق او تآلیف کړي چې د ملي او بین المللي غوره ارزښتونو لرونکي وي .

ما په خپله لیکنه کې هڅه کړې ترڅودپوهانو ادبي افکار او نظریات او دهغوی د اجتماعي اند دود په هکله څه ناڅه معلومات وړاندې کړم ، کېدای شي چې دا به کامل نه وي او څه نیمګړتیاوې به ولري ، دا ځکه چې انسان د سهوې او خطا څخه خالي نه وي که چېرې کوم ځای کې مفاهیم پاتې او یا نیمګړې وي ، د پوهو ادب دوستانو نه هیله کوم چې نوموړې نیمګړتیاوې راپه ګوته کړي .

## په ادبي مینه

# د هومیر ژوند لیک

سره له دې چې د هومیر د ژوند په هکله د پخواني یونان ادبپوهان او مؤرخین کوم دقیق معلومات نه لري . مګر (هرودت) د یونان نامتو تاریخ لیکونکی لیکلي چې (850) کاله د میلاد څخه مخکې یې ژوند کاوه، مګر ځینو شاعرانو بیا دده ژوند (1200) کاله مخکې له میلاد نه یاد کړی دی .

په خپله د یونان اوه ښارونه دا دعوه لري چې هومیر په هغو کې ژوند کړی دی خو بیا هم د هومیر د اوسیدلو اصلي ځای او پلرنی ټاټوبی په درست ډول نه دی معلوم .

په ځینو کیسو او داستانو کې راغلې دي چې هومیر د سپین ږیریتوب او د ژوند په اخر و کارونو کې خپلو دواړو سترګو دید له لاسه ورکړی خو په ښارونو کې به یې د چنګ رباب او ساز سره اشعار ویل او له خلکو نه به یې څه غو ښتل .

د هومیر دوه ادبي منظوم داستانونه چې (ایلاد او ادیسه ) نومیږي په ټولو بین المللي ژبو باندې ترجمه شوي دي. دغه داستانونه نړیوال شهرت لري د هومیر د اثارو سره د خلکو علاقمندي شپږ کاله مخکې له میلاد نه پیل شوېده او زیاتره مینه والو به یې د هغه اشعار په یادي زده کول او ډیرو پلویانو به یې دده په اشعارو باندې مجلسونه جوړول او ددغو اشعارو له ویلو څخه به یې خوند اخیست دلومړي ځل له پاره چې د هومیر اشعار راټول او په ډیر ښکلي خط یې ولیکل . (اریستارکوس) د اسکندر یې د کتابتون ریس وه ده یوسل پنځوس کاله د میلاد نه مخکې

دوه کتابونه چاپ کړل . چې تر اوسه پورې دغه باارزښته ادبي اثار د امانت په توګه پاتې دی .

د ځينو روايتونو له مخې هومير يو سندرغاړی او ړوند شاعر و چې ايلياد يې د ځوانۍ په کلونو کې او اديسه يې په سپين ږيريتوب کې ليکلی دی . يوه الماني پوه او محقق فريدريک اګوست ولف (1759-1824) ليکلي دي : چې هومير د ايلياد او اديسې اساسي برخې ليکلي دي اما نورو شاعرانو وروسته په هغه کې نور څه ورزياد کړي دي . له دې سره سره چې د هومير په باره کې زموږ معلومات ډېر لږ دي لاکن له دې ټولو سره سره بيا هم نه شو ويلای چې د هومير موجوديت به ناممکن وي . چې له هغه څخه انکار وکړو .

هومير ته منسوب آثار (ايلياد او ديسه )

ايلياد او اديسه دوه منظوم يوناني داستانونه دي چې د يونان قديمي شاعر (هومير ) ته منسوب دي. خوداسې نظريات هم شته چې دا داستانونه يوه سړي نه دي جوړ کړي او په يوه وخت کې منځ ته نه دي راغلي ا و په خپله دهومير دژوند تاريخ هم په يوه وخت پورې يقيني نه دی ځنې يې له ميلاده اته پيړۍ يا 12 پيړۍ وړاندې بولي . يوه داسې نظريه لا هم شته چې وايي د امنظوم داستانونه په پخوا زمانه کې جوړ شوی دی او هومير هغه په ياد کړي وو. او هرځای کې به يې ويل : د يونان په ادبي تاريخ کې د (قهرمانانو عصر) په نامه يوه زمانه قيد ده چې دا داستانونه هم د هغه عصر بيانونکی دی اودا عصر د وياړ او افتخار زمانه هم بلل کيږي ،

څرنګه چې په دې داستانوکې د لرغونې یونان ولس قهرماني او د قهرمانانو کارنامې ستایل شوي دي نو دښې ډېرې زمانې له پاره دمقدساتو په جمله کې شمېرل کېدل او دالمانځنه او تقدیس وو چې دغه قدیمي ادبي اثار یې له هیرېدو څخه ساتلي دي . ددې داستانونو ناظم هرڅوک چې وو د هومیر په شمول د خپل ولس د قهرمانانو شهامتونه او شجاعتونه یې توصیف کړي نو دا وجهه وه چې ولس د هغو د اوریدو څخه خوند اخیست او وروسته نو خبره دې حد ته رسېدلې وه چې پر ټاکلو وختونو د هغو اورېدنه یو سنت ؤ، ایلیاد او ادیسه دوه منظوم حکایتونه دي چې د (تراجان) د جګړو بیان کوي ، ایلیاد پر 24 برخو مشتمل دی چې د جګړې وروستی 49 ورځې د خپلو ټولو قهرمانیو سره پکې توصیف شویدي. په دغه منظومه حماسه کې د (ترای ) محاصرې څخه غږیږي . او اودیسه هم یو داستان دی چې 24 برخې لري او (ترای) ترسقوط وروسته د اتاکا ( ) د پادشاهي څخه غږیږي . ددغه منظوم داستانونو د لهجې څخه پوره معلومیږي چې د لهجې اختلاف یې د یوه زمان محصول نه دی . ددغې منظومې کیسې خلاصه داده : چې د (ترای) د پادشاه زوی (پاریس) د یونان د پادشاه دکورنۍ یوه شهزادګۍ د (لیدا) لورد (بلوکس) او ( کاستر) خور او د (مني لاس) ښځه وه .

(اګاممنون) پادشاهي په دې کیسه خبر شو نو غیرت یې په جوش راغی او دخپلو زورورو پهلوانانو (اچیل) او (اولیس) سره د (ترای) خواته روان شو ترڅو د شهزادګۍ تښتونکو ته مجازات ورکړي .

د ترای دپادشاه چې خبر شو هغه هم د خپلو زامنو (هکتور) او (پاریس) سره د جنګ ډګرته راغی هغه مهال چې جګړه توده روانه وه د (اګاممنون) پادشاه او دهغه دپهلوان اچیل ترمنځ خوابدي پیښه شوه او اچیل له جګړې څخه لاس ویوست خو هغه وخت چې د جګړې په میدان کې د (اچیل) ملګری د (پاتروګل) د ( ترای) د پادشاه د زوی ( هګتور) په لاس ووژل شو نو ( اچیل ) ته هم درد ورغی او دجنګ میدان ته داخل شو ، ده په یوه ضرب (هکتور) مړ کړ او (ترای) پادشاه ته یې وغورزاوه . د اچیل له بېرې د ترای خلک له میدان څخه وتښتیدل او په ښار ننوتل او دروازې یې وتړلې د (اګاممنون) لښکر چې هرڅه انتظار ویوست ښار خلاص نه شو او دمحاصرې په حال کې پاتې شو ترڅو یونانیانو چل وکړ او دلرګو آس یې جوړ کړ او په هغه کې دننه کښېناستل د ښار دروازه وانانو دوی ته فکر نه شو او کله چې آس ښار ته ننوت خلک ځینې راووتل او د دروازه وانانو سرونه یې پرې کړل ښار یې پرانیست .

او دښار خلک یې ټول له تیغه تېر کړل او دیونان شهزادګۍ یې د هغو څخه خلاصه کړه او بېرته یې خپل وطن ته راوستله . په دغه جګړه کې دیونانیانو سره د مرستې له پاره د (الپ) ټول خدایان راغلي وو او دوی (اچیل) پهلوان ته وسلې جوړې کړې وې.

داچیل مور هغه ته په داسې اوبو کې غسل ورکړی و چې بدن یې ټول د اوسپنې شوی وه او یوه بجلکه یې دغوښې وه او کله چې په جګړه کې د(ترای) دپادشاه زوی (باریس) په زهرو لړلی غشی د هغه خواته وروویشته نو پردغه لوڅه بجلکه یې وموښت او له دغه

زخم څخه (اچیل) پهلوان مړ شو . په دغه وخت کې داچیل په وسله (اولیس) او ( اجاکس) پهلوانانو ترمنځ جګړه وموښته او (اولیس) پهلوان دنورو لښکرو څخه جلاشو او دیونان پر خوا لاړ په دریاب کې یې کښتۍ ماته شوه او ده پر یوه تخته باندې تکیه وکړه .
( اولیس) یوویشت کاله په دریاب او ټاپوګانو کې سرګردانه ؤ، کله به یې د سمندر له څپو سره ډغرې وهلې او کله به در (سایکلوپاڼو) سره په جګړو بوخت و.
دی پس له شل کاله خپل وطن ته راورسید او وي لیدل چې ښځه یې تر دغه وخته پورې دده په نامه ناسته وه .
دترای جګړه دایلیاد او ادیسې د داستانونو اساسي موضوع ده . تر هغه وخته پورې چې د (ترای) ښار فتح کیږي د ایلیاد موضوع ده او تر هغه وروسته د (اولیس) سفر او ماجراوې د (اودیسې) په داستان پورې اړه لري ، څرنګه چې په دغو داستانونو کې د یونان دملت قهرماني لمانځل کیږي ، نو همدا وجه ده چې نوموړي اثر ته دنړۍ په ادبیاتو کې د حماسې لقب ورکول شوی دی .
دادیسې حماسه د زمان په لحاظ له ایلیاد څخه وروسته راځي. که څه هم د (ادیس) په داستان کې دارباب النواعو جادو ګرانو او اشباحو نقش ته زیات وزن ورکړ شوی دی او حتی په دې نړۍ کې د یوې بلې مرموزې یا په اصطلاح (لاندې نړۍ) خبرې هم په کې راغلې دي سره له دې دغه حماسه دیونان د فرهنګ تاریخ او فلکلور په برخه کې ډېره بډایه ده او د لرغوني یونان د مدنیت له روښانه کولو سره پوره مرسته کوي. څرنګه چې په (ادیس) کې

دیونانیانو ژوند په واقعي بڼه منعکس شوی دی له همدې امله د(هومر) دغه اثر د نړۍ په ادبیاتو کې د ریالیزم لومړنی اثر ګڼل کیږي. په همدې (ادیس) کې دنر او ښځو ترمنځ مناسبات د هر یوه کار او شغل د سولې او جګړې شرایط برخه لیک لولي دیني معتقدات د کورنۍ ژوند جزییات او د چاپیریال خصوصیات په ښه توګه تمثیل شوي دي. د(ادیسی) سبک ډیر برمبال او پرتمین دی.

(ادیسویس) د حماسې اتل دپو هې زړه ورتوب او زغم ښودل دي. (پنسیلوپ) دده میرمن د وفا داری نمونه ده او د خپل میړه په غیاب کې د هرډول نفسي او شیطاني وسواس سره مبارزه کوي. (ادیسویس) هڅه کوي چې ډېر ژر د خپلې کورنۍ غیږې ته پناه وروړي خو جادوګران ارباب النواع او هر ډول بلاوې په هره شپه او هر ګام کې دی له مشکلاتو او خنډونو سره مخامخ کوي، دده وفاداره میرمن د بډایو طلبګارو سره لاس په ګریوان ده. دده زوی (تیاماخوس) د خپل پلار دموندلو له پاره له هرډول وسایلو څخه کار اخلي. کله چې دغه ښکلې او په زړه پورې نکل شروع شي، ماشومان خپلې لوبې پریږدي، او یونانیان هم خپل کارونه بل وخت ته ځنډوي.

# د يورو پيدز پيژندنه

په لرغوني يونان کې درې تنه نامتو تراژيدي ليکونکي تيرشوي دي : ايسکلي، سوفوکليز او يوروپيدز . ويل کيږي چې يورو پيدز ټولې (92) ډرامې ليکلي دي چې دهغو له جملې څخه نولس ډرامې لاتراوسه ژوندۍ دي او ځينې يې لاتراوسه دستيج په سر ښودل کيږي (فيورتي) په خپل اثر (ستاسو ادبي ميراث) کې ليکلي چې دلرغوني يونان له تراژيدي ليکونکو څخه (يوروپيدز) ترټولو زيات معاصر دی. دده ځينې مفکورې نه يواځې د خپل عصر نه مخکې وې بلکې په ځينو ځايو کې لاتراوسه د زمانې نه وړاندې ګڼل کيږي . همدا علت دی چې د (يوروپيدز) ليکنې دسانسور له بياتي څخه يوه شيبه هم نه جلا کيږي . د (يوروپيدز) د ژوند ځينې صحنې تياره او کم رنګه دي. دده د زيږيدو نيټه په دقيق ډول معلومه نه ده . خو د (480) او (485) مخ زيږد ترمنځ اټکل کيږي. د يوه روايت له مخې (يوروپيدز) په هغه ورځ دې نړۍ ته سترګې پرانيستې چې يونانيانو په توده جګړه کې د ايرانيانو بحريه د (سلامس) له جزيرې څخه وشړله

ځينې وايي چې د (يوروپيدز) کورنۍ ډېره شتمنه وه خو (اريستوفانيس) د يونان کلاسيک شاعر د ملنډو په توګه وايي چې دده پلار يو مفلس دکاندار او مور يې کاهو خرڅول . ( يوروپيدز) هم پهلوان وه هم نقاش او هم يې په فلسفه کې لوی لاس درلود . ويل کيږي دخپل ژوند په وروستيو وختونو کې د مشهور فيلسوف (سوکرات) سره د دوستۍ رابطه ټينګه کړه ، ددوی دواړو ترمنځ لږ

تر لږه په دوو ټکو کې ورته والی لیدل کېږي. دواړه د خپلو ښځو څخه په عذاب وو او دواړه د ارباب الانوعو څخه بېزاري ښودله اما په یوه بل مورد کې د دواړو عادتونه یو له بله توپیر لري : (سوکرات) همېشه په حرکت ؤ او د (مشا) جکمت به یې تبلیغوه په داسې حال کې چې (یوروپیدز) به په ویوه اوږده موده کې د (تارک دنیا) په توګه ځله شوی و او په قلم او کتاب یې وخت تېراوه . ده خپل پنځوس کاله عمر قلم او کتاب نه و پریښی او په مقابل کې یې څلور او پنځه جایزې ترلاسه کړې. په خپل ژوند کې یې ډېر قدر ونه لید . ځکه چې ده سرکشي او طغیان افکار درلودل او دخپل عصر له معیارونو سره په ټکر کې وه . دی هم د (کنفوشیوس) په شان پس له مرګه د شهرت بام ته وخوت. د (یوروپیدز) اثارو هغه وخت محبوبیت وموند چې په اروپا کې په کپیتالیزم پورې مربوطې روحیې او عصبي ناروغتیاوې خپرې شوې. (یوروپیدز) سایکلوجست او دانساني سلوک انګیزې یې په ژوره توګه تحلیل کړې دي .

لیکن داسې ښکاري چې دغه نامتو سایکلو جست پخپله هم روحاً نا ارامه وه او روحي طبیب ته یې اړتیا درلوده ، پښتانه متل کوي : ( طبیب کوم دی چې رنځ پرې تېر وي) په پای کې (یوروپیدز) د اویا کالو په عمر خپل ځان پخپله تبعید کړ او مقدونیې ته یې سفر وکړ. ویل کیږي چې ددې سفر علت داوه چې (یوروپیدز) د ( آتن ) له خلکو څخه کرکه کوله او (اتن) خلکو هم له (یوروپیدز) څخه کرکه کوله .

نتیجه څرګنده ده : یوې خوا باید اتن پرې ایښی وای . یو

روپیدز به هم ویل : زه داتن خلکو نه یم شړلی بلکې ما دوی پرې ښودل. ( دا خبره اشاره ده د یونان د یوه مشهور خطیب وینا ته چې په تبعید محکوم شوی و).

## یوروپیدز ته منسوب آثار (میدیا)

(میدیا ) دیوه لړ غلطیو ډکه عالي ډرامه تقریباً ۳۰یخ وخت بې سانسوره ستیج ته نه ده راغلې ، د ډرامې سریزه ډېره اوږده ده او همدغه یې کمزوري ده . حیرانونکې او تصادفي پېښې په کې زیاتې دي.

ترټولو بده داده چې (یوروپیدز) د لوبې په پای کې بیرته ارباب النواعو ته رجوع کوي او دهغو په مرسته (میدیا) ته نجات ورکوي. سره له دې ټولو خبرو چیرته چې په تکنیکي لحاظ ډرامې مړې دي هغلته ( میدیا) که له ستیج څخه غایبه هم وي پر ستیج باندې حکومت کوي . په لومړي اکټ کې (میډیا) یوه تحقیر شوې او ځپل شوې میرمن ده چې بالاخره د انتقام په فکر کې لویږي اما څومره فجیح انتقام !

قصه داسې ده چې (جاسون) له خپلې طلایي بحربې سره د (کراچی) سیمې ته رسیږي. په دې سیمه کې یوه لویه خزانه ده چې ددیوانو غلو او ښامار په واسطه ساتل کیږي . د جاسون د نجات لاره بنده شوې ده . ارباب النواع په خپلو منځو کې یوله بله سلا مشوره کړي او د ګډوډې پربکړې په اساس فرمان صادروي ، چې ددې سیمې دپادشاه جادوګر لور (میدیا) دې پر (جاسون) مینه شي

او ددې په مرسته دې (جاسون) بېرته خپل هېواد ته راستون شي ، (جاسون) ددې مرستې په مقابل کې وکړه چې د (میدیا) سره واده وکړي له یو څه سختیو څخه وروسته (جاسون) او (میدیا) په بریالیتوب سره (کوربنت) ته رسیږي هغوی دواړه لس کاله یوځای ژوند کوي . په دې وخت کې د (کورینت) پادشاه خپله لور (جاسون) ته ورکوي او له (میدیا) څخه چې د څلورو ماشومانو مور ده جلا کیږي . ( میدیا) لومړی په تدبیر او چالاکۍ سره د (کورینت) پادشاه او دهغه لور وژني او بیا دغه کوږ ګره اسیایي ښځه د خپلو ماشومانو په وژلو سره د (جاسون) څخه وحشیانه انتقام اخلي په دې ځای کې لوبه اوج ته رسیږي . کرکه او څپانده خشم میدان ګټي د (جاسون) له تباهي سره (میدیا) هم خپل ځان تباه کوي. دا د(میدیا) تراژیدي پای دی. خو په ځینو روایتونو کې راغلي چې ارباب النواعیو (میدیا) پسې یوه ګاډۍ راوستله چې ښامار به کش کوله . په هر صورت که دا کار شوی هم وي ارباب الانواعو ناوخته اقدام کړی دی ، هیڅوک نه شي کولای چې د (میدیا) پرهار ژبې او غمجن زړه ته خوشحال را دعوت کړي . د (میدیا) ترازیدي څرګندوي چې بدبختي د مصیبت ځپلې کرکټر نه لوړوي بلکې تخریبوي یې. د (یوروپیدز) په دې لوبه کې د عنعنې له ډګر نه دباندې ښځه کیښودله (میدیا) د تراژیدي قهرمانه د یوې بربري قبیلې څخه وه . د (یونانیانو به نور قومونه له ځانه ټیټ او بربریان ګڼل) . (جاسون) د رومان ستر قهرمان دطلایي بحریي سرکرده او لوی پهلوان دیوې وحشي ښځې د لاسه پایمال شو . نو یونانیانو به ځانونه مستحق

ګډل ددغې تراژیدی لیکونکي څخه کرکه وکړي . ( میدیا ) په دې تراژیدي کې د ښځو له حقوقو څخه دفاع کوي .

# د ارستوفان ژوند لیک

دیونان نامتو کمیډي لیکونکی و. د لرغوني یونان د مخزیږد د پنځمې پیړۍ د کمیدي پراختیا له هرڅه زیاته د ارستوفان تقریباً (445-385 مخ زیږد)د نامه پورې زیاته اړه لري. کره کتونکو دی د کمیډي د پلار په نامه بللی دی . ارستوفان په ځوانۍ کې په لیکلو پیل کړی دی او دهغه په کمیدیو کې ورځنی سیاسي اجتماعي پرابلمونو ته ځای ورکړ شوی دی. ارستوفان خپلو کمیډي کې هغه شهوت طلبان او هغه څوک چې په نوم او ننبان پسې ګرځي تر سخت ملنډو لاندې نیولی دی. ده په ډیر جرأت سره د ټولنې هغه اداري عناصر وغندل کومه چې دده په نظر د ټولنې له پاره مضر او اذیت رسونکی وه.

ارستوفان د بریګل په دوره کې ژوند کاوه،چې هغه وخت په یونان کې د ډیموکراسي نظام خپل اوج او لوړو پوړیو ته رسېدلی وه،

په تاریخ کې دغه دوری ته دطلایې دورې نوم ورکړشوی دی . بریګل

ويلي ((زموږ نظام يوديموکراسي نظام دی په دی نظام کې دخلکو داکثريت ګټې نغښتې دي )) څرنګه چې د ډراماتيکو ژانرونوپه لړ کې کوميدي يو مهم ځای لري . کوميدي (يوناني دخوښې تمثيل سندره)کلمه ده . کوميدي هم دتراژيدي په شان دلرغوني يونان په خاوره کې په مخزيږد پنځمې پيړۍ کې د ادبي فورم په موندلو سره پرمخ ولاړه . په کوميدي کې د تراژيدي په شان د لرغوني يونان د انګورو او شرابو دخدای (د يونيس)په وياړ دخوښی او خوشحالی مذهبي مراسم لرغونو يونانيانو اجرا کول . او په دغه وخت کې کوميډي نسبتاً ډېره پرمخ ولاړه . دا وخت کوميډي عادتاً د دريو تنو اکټورانو له خوا تمثيلېدله چې کورس او نڅاوې به ورسره ملګرې وو

د اکټورانو عجيبو ماسکونو او د صحنې دمخ انځورونو به د نندارچيانو ځانګړې پاملرنه ځانته اړوله .

ارستوفان وکولای شول په خپلو کوميډيو سره راتلونکی پرمختګ له پاره لاره هواره کړي . د ارستوفان د کميډي لوی صفت داوه چې هغه ته يې اجتماعي رنګ ورکړ. ده په خپلو کوميډيو کې ورځني ټولنيز او سياسي پرابلمونو ته ځای ورکړی و او په ډېر او جرأت سره يې د ټولنې هغه اداري عناصر وغندل چې دده په عقيده دټولنې له پاره او اذيت رسونکي وو. دده د کوميډيو يوه موضوع چې په هغه ورته خلکو ځانګړې پاملرنه لرله هغه د سولې موضوع وه. په دغه مهال کې د (پلوپوني 431-404 مخ زيږد) تباه کوونکې ډېره اوږده جګړه روانه وه .دغسې جګړې چې يوائې د زغرو تورو او د جګړې د وسايلو جوړولو مؤسسو خاوندان بډای

کول او بس ارستوفان دغه جګړه په خپلو یو لړ کمیډیو کې سخته وغندله. په دې باب د ارستوفان دغه (اخرنیان لیسیترات) نومې کومیډي دیادونې وړ دی. د ارستوفان په کومیدیو کې چې څه نور موضوعات څرګند ځای لري هغه دادي:

فقر او غنا په (پلوتوس) د ټولنې دسیاسي جوړښت موضوع به (الوتونکې) د خلکو په ضد د هغه مهال د تاجرانو او صنعتګرو افکار په (سپاره) د شعر او دهغه اجتماعي ارزښت په باب افکار په (چونګښې) نومې کومیډیو کې ځای شویدي . ارستوفان په خپلو کومیډیو کې د اولس عادي او ساده خلکو ته ځای ورکاوه چې اجتماعي تضادونه او منازعو ته چې په کومیډیو کې ځای ورکړی و تمثیلیدل د هغو په سترګو کتل کېدل او د هغو په فکر ارزښت ورکول کېده . دغه عادي خلک به معمولاً نوکران او لښکریان وو. په دغو کومیډیو کې به د ټولنې د بډایو واکمنو چې په خپلو ګټو مین وو غندنه او په هغوی پورې ملنډه او په مقابل کې د ښو صفاتو لرونکو وګړو ستاینه ځای شوې وه .

## د ارستوفان اثار او دهغه سیاسي عقاید

د ادبیاتو د نړۍ په تېره بیا د کومیډیو په لیکلو کې ارستوفان ښکاره موقف لري. ارستوفان تر 40 زیات کومیډي اثار لیکلي اما د جګړو له کبله یوائې (11) اثرونه یې لا تر اوسه د زمانې له تاړاکه خوندي پاتې دي. او تر ټولو په زړه پورې اثار یې دادي:

1. پانګه (388 مخ زیږد کال )
2. چونګښې (405 مخ زیږد کال)

3. ښځې د فیسوس فوري په جشن کې (422 مخ زیږد کال)
4. لیسیسرات (411 مخ زیږد کال)
5. سپاره (421 مخ زیږد کال )
6. سوله (421 مخ زیږد کال)
7. وریځې (423 مخ زیږد کال )
8. اخر نیال (425 مخ زیږد کال )
9. ښځې په ولسي غونډه کې (کابو 392 مخ زیږد کال)
10. مرغۍ ( 414 مخ زیږد کال)
11. پلوتوس ( 412 مخ زیږد کال )

د منقدینو په اند ارستوفان هغه شاعر دی چې د خلکو غوښتنې یې په خپلو اثارو کې تمثیل کړي دي . ارستوفان په خپلو کومیډیو د اجتماعي عبرت او نصیحت هدفونه ځای کړي دي . او په ډېر جرأت سره یې دټولنې هغه اداري عناصر غندلي کوم چې دټولنې له پاره ضرر رسونکي دي . دده د کمیډیو یوه موضوع چې په هغه وخت خلکو ورته ځانګړې پاملرنه لرله د سولې موضوع وه . په دغه وخت کې د پلوپونې تباه کوونکې ډېره اوږده جګړه روانه وه . دغې جګړې چې یواځې د زغرو تورو او دجګړې د وسایلو جوړولو د مؤسسو خاوندان بډای کول او بس. ارستوفان دغه جګړه په خپلو یولړ کمیډیوکې سخت وغندله په دې باب د ارستوفان اخرنۍ ان سوله لیسیترات نومې کومیډې د یادونې کومیډي وړ دی .

د ارستوفان په کمیډیو کې چې نور موضوعات څرګند ځای لري هغه دادي :

فقر او غنا په پلوتوس د ټولنې دسیاسي جوړښت موضوع په (الوتونکي) د خلکو په ضد د هغه وخت د تاجرانو او صنعتګرو افکارو به (سپاره ) د شو او اجتماعي ارزښت په باب افکار په چونګښې نومې کمېډیو ځای شوي دي . څرنګه چې ددغه وخت اجتماعي ځیره چې ادبي جریان هم په خپل غېږ کې رانیسي او یو اجتماعي ځیرونکی یې داسې ښیې:

تجارت دیوې لازم الوجود وسېلې په حیث د دووتولید کونکو په لوستلو پیل وکړ او ددغه جریان سره تاجران منځ ته راغلل او دعمومي ثروت یوه لویه برخه یې ځانته وساتله . څرنګه چې تاجرو به یوې تېزې چلنده واسطې ته احتیاج درلوده نو پیسې ایجاد شوې دپیسو ایجادولو یوه اقلیت ته په ی،ه اکثریت قوت وبانښه او ددغې اقتصادي معرکې سالارانو هم تاجرو ددغسې ی،ه جریان ډېر ښه تصویر ارستوفان ددغه وخت تکړه هنرمند په خپله یوه معروفه کمیډي (پلوتوس) کې ایستلي دي .

پلوتوس دپیسو د ډېرو خاوند دی چې ارستوفان د هغه کیسه په خپل کومیډي شعر کې کوي چې څرنګه یې په پیسو سترګې ورپټې کړې وې چې هیڅ یې خپل دوست او دښمن نه پیژندده او پیسو ړوند کړی و. خو هغه ومهال چې ولویده او دسترګو دید یې لاړ نو نیت یې وکړ چې خپله شتمني وویشي خو څرنګه چې دی ړوند و نو مستحق او غیر مستحق یې نه شوای پیژندای او یواځې چالاکه خلک پرده راټول وو. چې په خپلو مختلفو چلونو یې پیسې ځنې اخیستې . کله چې ده په بینا سترګو شااوخواته وکتل نو یو شو چې خپله ټوله شتمني یې و چلبازانو او نالایقو خلکو ته وېشلې

ده . د ارستوفان په دغه کمید کې چې د پلوتوس په نامه یادیوي سړی پوهېدی شي چې ده د خپل عصر او ټولنیزو شرایطو یو واقعي تصویر ایستلی دی او دهغه داستان ځرګندوی چې څرنګه د بې عدالتی په ګرداب کې ټولنیز حقوق د اقلیت په ګټه او د اکثریت په تاوان جریان لري .

# د ویرژیل پیژندنه

ویژیل (19-70 مخ زیږد) د روم نامتو شاعر (منتوا) ته نږدې په شمالي ایټالیا کښې زیږېدلی دی. ځینې وایي چې دده پلار کلال او د ځینو نورو په قول د (مګیسوس) په نامه د یوه شتمن سړي مزدور و د ویرژیل (ویر جیل) پلار د (مګیسوس) پاملرنه خپل ځانته راوګرځوله او په لږه موده کې دپیسو خاوند شو.

ویرژیل د ایټالیا په بېلابېلو ښارونو کې زده کړه وکړه او په ادبیاتو او فلسفه کې د تبحر مقام ته ورسید په فلسفه کې دده استاد د ابیکور مکتب ته مایل و او همدغه تمایل دده په لومړنیو اشعارو کې منعکس شوی دی لیکن ده په وروستیو شعرونو کې د رواقیانو او فیثاغورثیانو اغېزې زیاتې شوي دي . د فلیپي په جګړه کې (42 مخ زیږد) د امپراتور اګتوس لښکرو دده ځمکه ضبط کړه او نږدې و چې ویرزیل د پرمختګ له پاره لاره هواره کړه . دی له یوې عریضې سره سم روم ته ولاړ او هلته د فردوس په شان دشاعرانو له یوه انجمن سره مخامخ شو چې مشر یې (میسینس)

وزير ؤ. ميسباينس دی له اګتوس امپراتور سره اشنا کړ او د هغه په دربار کې د قرب او منزلت خاوند شو. امپراتور نه غوښتل چې د ويرژيل ادبي قريحه په اداري چارکې راګېره پاتې شي نو له دې امله ده ته يې دضبط شوې ځمکې پر ځای په يوه مناسب ځای کې نورې ځمکې ورکړې چې هلته شعر ووايي. ويرژيل کليوال سړی و د کليوالی ژوند صحنې او منظرې يې پخپلو اشعارو کې انځور کړې. امپراتور له ويرژيل نه غوښتنه وکړه چې د کرنې او حاصلاتو په باب داسې شعرونه ووايي چې کليوال خلک لا زيات کار او زيار ته تشويق کړي. هماغه ؤ چې ويرژيل د شنو چمنونو ورشوګانو په باره کې ښکلي شعرونه وويل او د ايټاليې زړه وړونکې منظرې او لاجوردي اسمان يې د شعر په هنداره کې منعکس کړل ليکن د ويرژيل شهرت د يوه شي مرهون دی. او دلته سندرغاړي د خپل هنر له پاره يې ځايه هلې ځلې نه کوي ((کومه سندره چې د ملت زړه ته نوازش ورکوي په خپل دات کې يوه مهمه کارنامه ده)) ويرژيل يو ملي حماسه ابداع کړه د ايټاليې تاريخي شهرت يې يو ځل بيا روښانه کړ. د روم پرتمين شاليد يې له تياري څخه راوست او د ((انيېد)) په حماسه کې يې وځلاوه داد (اني ايس) قهرمان داستان دی چې د هومر په حماسو کې يې نوم ذکر شوی دی.

## دويرژيل ادبي شهرت

ویرژیل د لرغوني روم ستر شاعر دی . دده ادبي شاهکار د ‹انیپد› نومیږي. ظاهراً ددې داستان عمده محتویات ‹اني یس› ا و ‹جګړې› ددې لیکنې د شعر مرکزي هسته د روم ښار او دهغه سرنوښت دی ‹اني یس› دترای اوسېدونکی د لاتین ملت مؤسس او د امپراتور اګستوس ستر نیکه دی او پښت په پښت ددوی اصلي ارباب النواعو ته رسیږي څرنګه چې د ‹هومر› په حماسو کې د ‹اني یس› د ژوند په داستان باندې د ابهام ګرد پاشل شوي دي ویرژیل له همدې تیارې ټکې څخه استفاده کوي هغه د ګمنامۍ له ایر څخه راباسي حلا او پرداز ورکوي او ستر تاریخي قهرمان او د ارباب النواعو لمسی ترې جوړوي . د ‹انریس› یو حماسه باندې دیوه فیلسوف شاعر له خوا په شعوري او اردي توګه کار شوی دی او له همدې امله ‹اني یس› همیشه داسې د کارنامې سرته رسوي چې دایټالیا د ملت غرور افتخارات اصلي ممیزات د هغه په وجود کې تبارز شوی دی . هغه د مامسست پلار او د روم مؤسس دی اصل او نسب یې معلوم او په حماسو کې کې یې نوم ذکر شوی دی.

ویرژیل د خپل ژوند یولس کاله دغه ادبي شاهکار ته وقف کړل او ارزو یې درلوده چې درې کاله د ‹انیپد› په نوي کتنې او صیقل کولو باندې تېر کړي خو عمر وفا ورسره ونه کړه او یوې سختې تبې دده شاعرانه ماغزه له فکر کولو څخه وغورزاول . ویل کیږي چې د مړینې مخکې یې وصیت وکړ چې د ‹انپد› اثر دی وسوځول شي خو امپراتور اګتوس له دې وصیت نه خبر شو او دسوځولو اجازه یې ور نه کړه بالعکس امریې وکړ چې د ځینو جزیې عبارتونو له حذفولو وروسته دې خپور شي .

د (انیډ) داستان د (ایلیاد) او (اديسي) په پله روان دي . (اني یس) دداستان قهرمان د (ایکسیز) او (افرودیس) زوی او د (هکتور) د تره زوی دی . (انکسیز) د ترای شهزاده په پټه د (افودیس) رب النواع سره عاشقانه اړیکې درلودې او کوم چې ددغه راز افشا کړ په پښو شل شو . (هکتور) د ترای تر ټولو مشهور پهلوان و چې د یوناني قهرمان (ایشل) له خوا د جګړې په وخت کې ووژل شو . (اني یس) د ترای په جګړه کې خپله میړانه وښودله او دترای د خلکو لارښوونه یې په غاړه په غاړه واخیسته که څه هم جګړه د یونانیانو په ګټه تمامه شوه خوده د خپل قوم خدمت پرې نه ښوده او په یو ه اوږده سمندري سفر یې لاس پورې کړ .

دډېرو سختو پیښو، او فجایعو سره لاس او ګریوان ؤ. د افریقا په سواحلو کې (کارناژ) ته نږدې دده بیړۍ ماته شوه ده خپله ماجرا د(دیدوو) په نامه یوې کونډې ملکې ته بیان کړ . (انی یس) خپل سرنوښت هیر کړی ؤ (عطارد) د ( مشتري) په امر ده ته توصیه وکړه چې خپل رسالت سرته ورسوي او ایټالیې ته ولاړ شي ده (دیدو) پرېښوده او دخپل سرنوښت په لارې روان شو (دیدو) له ډېره څوره افتخار وکړ. د (اني یس) د (تیـبر) سیندو ته ورسید او د(لاتینوس) پا]اه مهرباني ځانته جلب کړه . (اني یس) خپلو دښمنانو ته ماته ورکړه او د (لاتینوس) له لور (لاوبنیا) سره یې واده وکړ همدلته ده د (لاوینیوم) ښار یعنې اوسنی روم اباد کړ. ویرژیل ددغه داستان په تنظیمولو کې دتاریخي او ارکیالوژیکي معلوماتو په مرسته ډېرې رومانتیکې صحنې انځور کړیدي . (اني

يس) د زړه ورتوب تقوا او رواني زغم سمبول دی. د منځنيو پيړيو د قدس په شان ده ټول ژوند د ارباب النواعو رضايت ته وقف کړی دی . له هغه مهاله چې دده ماينه دترای په جګړه کې بې درکه شوې ده . فقط يو مين شوی دی ليکن د (ديدو) مينه دی له خپل هدف څخه نه شي راګرځولی . له (ديدو) څخه دده بېلېدل يوه داسې غمګينه صحنه تمثيلوي چې زړه نه شي ورته ټينګولی کله چې دسن اګوستن دا قصه اورېده ورته ويې ژړل (ديدو) وفاداره ميرمن چې ( اني يس) له مصيبتونو ژغورلی ؤ. د بېلتانه په مهال ښېرا کوي خدای دی د روم او کارتاژ ترمنځ خونړی شخړې هيڅکله پای ته ونه رسوي . (فيورتي) ليکي چې : (( انيپد د هومر د ايلياد او (اديسې) په نسبت يو پيچلی او پرمختللی مدنيت تمثيلوي)).

دلته په داستان کې د (هدف) په نامه يو سوريزي او بدل شوی دی. او شا اوخوايې ديوه ملت د لويې غوښتنې ډيزاين ليدل کيږي په انپد کې نړيوال قوت منځنی ټکی نه وي بلکې داستان د ايډيالونو له خوا رهنما کيږي . ويرژيل په خرافاتو باندې عقيده نه لري خو ځان مجبور ګڼي د يونانيانو او روميانو انګېرنې په خپل اثر کې منعکس کړي. انګريزي شاعر (تينيس) وايي چې وير ژيل : ( دېرباد شوو زمانو په منځ کې يو بېلېدونکی مثال دی ) ويرژيل له تباه شوي او ځپل شوي سره ډېره مينه څرګندوي او پرهغو جسدونو باندې چې په وينو باندې لړل شوي دي له ژړا او زګېروي څخه ډه ډه نه شي کولای . په اروپا کې پنځّ سوه کاله تياري او تعقيب حکومت وکړ د فيلسوفانو او شاعرانو سانسورشوی و کشيشانو

ویرژیل ته څه ونه ویل ځکه دوی فکر کاوه چې ویرژیل په خپلو شعرونو کې د عیسی علیه السلام زیرې ورکړی ؤ، ویرژیل غیر مسیحي ؤ خو دده اخلاق ایدیالونه د مسیحت سره موافق ؤ او له هغه امله (تینین) دی دبرپا شو زمانو په منځ کې حتی دمنځنیو پیړیو په تیاره دوران کې دیوه ځلېدونکي مشال سره ورته کوي.

# هوريس

## دهوريس بيوګرافي او دهغه هنري ادبي فعاليت

ويليام شکسپير په (تيوسن) کې د (چيرون) له خولې وايي: او دا دهوريس شعر دی زما ښه په ياد دی . ما ډير مخکې هغه په ګرامر کې لوستلي ؤ له دې پورتني عبارت څخه جوتيږي چې پخوانيو ليکوالو به د ګرامر او انشا په موضوعاتو کې د (هوريس) شعرونه د استنباط له پاره راوړل ، ( هوريس) د روم امپراطورۍ يو ځلانده ادبي ستوری ؤ. دی له نن څخه دوه زره کاله مخکې ژوندی ؤ خو دده شعرونه لاتراوسه د متلونو په بڼه د خلکو په خولو کې ګرځي په نړۍ کې به ډېر لږ شاعران وي چې دوه زره کاله وروسته هم دده فکرونه د اولسونو په سينو کې ژوندي پاتې شوي دي . ويل کيږي چې داسې ډېر کسان شته چې دشعر سره مينه نه لري خو له (هوريس) شاعر سره مينه لري دا ځکه چې دده په نظمونوکې د شهرت سربېره د ژوند ډېر خوندور موضوعات نغښتل شوي دي ښايي تاسې به کوم داسې ليکوال پيژنئ چې د حماقت په ستاينه کې يې کتاب ليکل وي او له داسې شاعر سره به هم اشنا وي چې وايي: ((دادنيا په احمقانو ده ودانه )) ليکن (هوريس) دده په خلاف پر حماقت باندې ملنډې وهي اوهغه يې سخت ريشخند کړی دی. داهم د تعجب خبره نه ده چې ځينې کسان له شرارت څخه ملا تړ کوي او د (نيچه) په قول : ((بر سړی بايد تر ټولو بر او تر ټولو شرير وي .)) خو (هوريس) په خپلو نظمونو کې د شرارت غندنه کړې ده د هوريس نظمونه د خپل عصر روحيه تمثيلوي او په هغو کې د

روسیانو ایډیالونه منعکس شویدي (هوریس) مور ته داسې خبرې کوي . سړی کولی شي له پراخو سمندرونه څخه تېرشي خو له خپل ځان څخه نه شي خلاصېدای. موسمونه تیریږي او خپل وخت بېرته راګرځي خو دانسان په ژوند کې سپرلی بیا نه راځي ( ځواني فقط یو ځل راځي) د سبا ورځې نه څوک خبر وي همدا نن ورځ په خوشحالی تیره کړه . لکه چې وايي څو ورځې په خو شحالی سره ژوند کول پاد شاهي نه ډېر ارزښت لري . د امپراطورۍ د اداره کولونه د خپل ځان اداره کول مشکل کار دی د مرګ ساړه لاسونه دشا او ګدا بدن لمس کوي. د خپل هېواد په مینه کې مرګ ترټولو خوږ او مناسب مرګ دی . څوک چې په کار پیل وکړي نیم کار یې سرته رسولی دی. ایا ته خوار یې! سره له دې ته کولای شي طلایي خوبونه ووینې په کوم سر باندې چې تاج اېښودل شوی وي پر بالښت باندې ارام نه شي اېښودال کېدای. قهر نیم لیونتوب دی . یواځې نوم ته تغیر ورکړه نور نو ټول داستان ستا په باره کې ویل شوی دی.

(هوریس) څوک و؟ د ده دپلار نوم (کولینتوس هوریشن فلاکوس) دی او د جنوبي ایټالیا لرغونې ښار (وینوسیا) کې (8-65 مخ زیږد ) کې زېږېدلی دی پلار یې ازاد شوی مریی ؤ ، ده خپل تحصیلات په (روم) او (اتن) کې پای ته رسولي دي. په ځواني کې یې په فلیپي جګړه کې برخه واخیسته خو جګړه د دښمن په برخه تمامه شوه ویل کیږي چې د روم امپراطور خوشحاله نه و چې شاعر دې د جګړې میدان ته ورشي خو (هوریسن) دنامتو شاعر (وطرژیل) له خوا (میسیناس) وزیر ته ور وپیژندل شو. (میسیناس) خپله ټوله شتمني

د لیکوالانو او شاعرانو د روزنې له پاره وقف کړې وو . هوریس یوازې د وزیر ملګری نه ؤ بلکې د روم امپراطور (اګسرتس) هم دی د خپلو ملګرو په ډله کې داخل کړ. میسیناس وزیر هوریس ته د (سابین) په سیمه کې ځمکه وروبښله چې هلته لیریک او غنایي شعرونه ووایي شاعر په خپلو نظمونو کې یوازې د کلیوالي ژوند صحنې او ازاد طبیعت نه دی انځور کړی بلکې د روم په عظمت کې یې هم ترانې ویلي او لاتیني ژبه یې په خپلو خوا ږو اشعارو سره غني کړه . هوریس به د ځیرې د ونې لاندې سیورې ته ناست ؤ د ارغواني شرابو جامونه به یې په سر اړول او دخپلو یوناني معشوقو ښکلا به یې ستایله داسې ښکاري چې د ځوانۍ په عمر کې په اتن کې د لید یه خوبي او داسې نورو یوناني پیغلو سره اشنا شوی ؤ. دی د په خپلو نظمونو کې د خپل پلار او همدارنګه د امپراطور ستاینه کوي . ښایي چې مور به یې دده د کوچنیوالي په وخت کې مړه شوې وي. دده په نظمونو کې مینه ،عطوفت، طنز، شک او هوښیاري لاس په لاس ګرځي. دده له مُربي څخه حکایت شوی دی . چې هوریس به د قناعت ا پرهیز په برخه کې نورو ته وعظونه کول خو په خپله ددې شیانو پابند نه ؤ ، د هوریس شعرونه د احمقانو او لاابالي خلکو په مذمت کې ویل شوي دي . او هجویه اشعار یې په کافي اندازه شهرت لري . (هوریس) کلاسیک شاعر دی او په فلسفه کې زیاتره د ارسطو د اعتدال د لارې پیروي کوي خو کله کله د اپیکور مشرب ته هم لاس ور غورځوي.

# د انګلستان ادبيات

## ويليام شکسپير

### د ويليام شکسپير ژوند ليک او ادبي شخصيت:

په نړۍ کې مشهور ليکوال نامتو ډرامه ليکونکې ويليام شکسپير د دوشنبې په ورځ د اپريل په 23 په کال 1564 ميلادي په استرافورد اپان- اون د واروبکشاير په ناحيه کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې د شکسپير پلار جون شکسپير نوميده چې د استرافورد شمالي خواته درې نيم ميل کې زيږيدلی ؤ.

چې نوموړی د ډېرو ځمکو خاوند ؤ دده مور (ماری رادون) رابرت رادرن لور وه چې د استرافورد د ښکلو انجونو څخه وه. چې د جون شکسپير سره د ازدواج په وخت کې د ډېر ميراث خاوند ؤ چې دا علت يو د هغو عواملو نه وه چې جون شکسپير د هغې سره واده وکړ او په ډېره ارامي سره يې ژوند تېراوه. د شکسپير د پلار جون شکسپير د وظيفې او شغل په باب مختلف او رنګارنګ نظر يې موجودې دي مګر هغه چې ډېری يې تاييده وي هغه دا چې جون شکسپير څه موده د خپل د کلي د شورا غړی او وروسته له هغه د

ناظر او خزانه د ار او د یو څه وخت له پاره یې دټول ښار د ولایت مقام په غاړه ؤ دشکسپیر د کوچینوالې د ورځو په باب هیڅ کوم دقیق معلومات نه شته ، مګر یواځې دومره کولای شو ووایو چې دی په یوې بډایې او پیژندل شوې کورنۍ کې زیږیدلی دی او د ارام او د ژوند دښو شرایط لاندې لوی شوی دی.

ویلیام شکسپیر په (1570) زیږدیز کال د استرافورد په یوه منځنۍ ښوونځی کې په زده کړه پیل وکړ او په دې مدرسه کې یې لاتینې ژبه زده کړه او په دې وسیلې سره یې د لاتینې ژبې د ډېر پیاوړي او ستر شاعر اوید اثار ولوستل د ویلیم شکسپیر کورنۍ د کاتولیک مذهب پیروان وو او دخلکو په منځ کې ډېر محبوبیت درلود . شکسپیر تر څوارلس کلنۍ پورې په ښونځی کې زده کړه وکړه او وروسته یې په خصوصي توګه په مطالعاتو پیل وکړ. وروسته له نولس کلنۍ نه د شکسپیر د دندې او وظیفې په باب هم مختلفې نظریې موجودې دي چې له هغو څنې په دې نظر دی چې شکسپیر دعدل د وکیلانو په یوه دفتر کې په کار بوخت ؤ او څنې تاریخ لیکونکي په دې عقیده دي چې هغه یو قصاب ؤ. څنې دا هم وایي چې شکسپیر په یوې مدرسې کې کار کاوه . د ویلیام شکسپیر په ژوند کې چې کومه مهمه واقعه تېره شوې هغه داده چې په نولس کلنی کې په کال 1583 زیږدیز دیوې نجلۍ سره چې آن هات هویې د ریچارد هات هویې لور وه واده وکړ. آن هات په عمر کې اتلس کاله د شکسپیر نه ستره وه . د همدې ښځې نه یې دوه لوڼې سوزنا ، جودیت او یو زوی هامنت پیدا کړی چې متأسفانه هامنت په یولس کلنی کې مړ شو او دغه لوی شاعر او ستر ډرامه

لیکونکی د نارینه نسل نه محروم پاتې شو وروسته د نولس کلنی نه یعنې د (1592 – 1594) لونو ترمنځ د شکسپیر د کوچنیوالي دژوند په باب کوم دقیق معلومات په لاس کې نه شته ولې دا درسته ده چې ده په 1584 زیږدیز کال کې لندن ته سفر کړی او د سفر په لومړیو شپو او ورځو کې د رابرت ګرین په واسطه چې د الیزابت د عصر د معروفو او مشهورو ډرامه لیکونکو څخه وو د تیاتر له هنر سره معرفي کیږي.

په 1592 کال په لندن کې د طاعون مرض پیدا شو او په زرګونو انسانانو یې ووژل، د تیاتر دروازې وتړلې شوې دا ځکه چې هنرمندان یې هم د طاعون مرض مړه کړي وو. په دې وخت کې شکسپیر یواځې پاتې شو اما بیا هم په ارامه کښېناست او خپل ادبي فعالیت ته یې دوام ورکړ. شکسپیر د دوشنبې په ورځ داپریل په 23 په کال 1616 زیږدیز له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي ، دده دشخصیت په باب دومره ویلای شو چې دې د هنر او ادبیاتو افتخار دی.

شکسپیر برسېره پر نمایشنامو اشعار هم ویلي ، لکه: ((وینوس او اُدونیس))، (هتک ناموس لوکرس) د تعجب وړ خبره ده چې شکسپیر خپل ژوند کې مشهور سړی ؤ اما فعلاً د هغه په باره کې کوم څه ډېر معلومات په لاس کې نه شته.

## د شکسپیر اثار

ویلیم شکسپیر دانګلستان د مشهور و ډرامه لیکونکو څخه دی. هغه دتیاتر له پاره ستر خدمتونه کړي دي. شکسپیر د تیاتر سره

مینه درلوده او دهغه په باب یې پوره او بشپړ معلومات درلوده . دی لا آن تردې چې خپلې شپې او ورځې په تیاتر کې تېرولې . دده په اثارو کې د ظرافت ، بشردوستۍ او تواضع ښې ښانې لیدلای شو دده د اثارو بل خصوصیت دادی چې یوه ځانګړې طبقه نه تر محفوظ کیږي. بلکې دده د ځینو اثارو څخه لکه هملیت، پنځم هانری او تللو څخه لا فلمونه هم ډک شوي دي . هغه چا چې د شکسپیر اثار لوستلي وي نو هرو مرو به دپادشاهانو ، ملکو او د لښکرو د سردارانو سره به دوی مخامخ شي او په وضاحت سره به د دوی په وجود باندې عقیده پیدا کړي . د یو کرکتر تجسم هغه کار دی چې شکسپیر په اسانۍ سره پّ استیک ډول ترسیم کړي دي .

د هغه له عهدې څخه وتلای شي ، شکسپیر د شعر له نظره مطالب دومره ښه افاده کړي دي چې د حیرانتیا ځای دی. که چېرې د نړۍ د کمیډي لیکونکو نومونه واخلو نو شکسپیر د دوی په سر کې واقع کیږي همدا راز که چېرې د تراژیدي لیکونکو نومونه واخلو نو دشکسپیر نوم په لومړي قطار کې راځي. شکسپیر هغه لیکوال دی چې د کمیډیو لوستونکو ته یې خندا او د تراژیدیو لوستونکو ته یې ژړا راځي دشکسپیر ټول اثار د نړۍ په بېلابېلو ژبو ژباړل شوي دي . دده د اثارو ادبي جنبه ډېره قوي او داستانونه یې ابتکاري اړخ لري . د شکسپیر تلپاتې اثار دادي :

1. د عشق کوښښ بې ځایه دی
2. سپوس اندرونیکوس
3. د خطا و کمیډي

4. رامپوژولیت
5. جون شاه
6. د سرکشۍ ښځې رام کول
7. ځلورم هانري
8. پنځم هانري
9. د دهیخ لپاره غالمغال
10. هرڅه چې وغواړې
11. دولسمه شپه
12. ښه دی هغه چې اخر ښه وي
13. ژول سزار
14. هملیت
15. اندازه په اندازه
16. اتللو
17. لیرشاه
18. مکبث
19. انتوني کلیو پاتر
20. طوفان
21. وینیري تاجر
22. اتم هاندي
23. دژمي قصه
24. کوریولانوس
25. سملاین
26. تاین انتي

27. پریکلس
28. ترو پلوسي و کرشیدا

انسانان نه باید خپلو منځنوکې جګړه وکړي په خپله ځان تباه کړي دوی ولې خپل منځ کې ډېر نا مهربانه دي . باید ټول مسایل د خبرو له لارې حل کړي د چارت کیسې هجویه هم د سویف په زړه پورې اثر دی. په دې کیسه کې سویف د عیسوي تاریخ بیانوي او د کلیسا ریا کاري او عو امضریبې خلکو ته وانیسي دده ترټولو په زړه پورې اثر ((د هولیر پر مسافرتونه )) دی چې لیکوال په دې اثر کې د انګلستان د ټولنې بېلابېلې ډلې ترخیړنې لاندې نیسې او د ګوبې ویر د دوه سفرونو حادثې په کې تصویروي. سویفت په 1745 زیږدیز کال د نړۍ څخه سترګې پټې کړې ډي .

# چارلس دیکستر

د چارلس دیکـــــتر (1812 – 1870 زیږدیز) هغه لیکوال دی چې نوم یې په ټوله نړۍ کې مشهور دی. دانګلستان په ادبیاتو کې دیکســتر دانتقادي ریالیزم مؤسس ګڼل کیږي . ددغه نامتو لیکوال دنوم سره د برطانیې دادبیاتو د انکشاف پوره یوه پېړۍ تړلې ده . دیکـــــتر په یوه ډېره غریبه کورنۍ کې زېږېدلی دی ، دده پلار د فرضونو د لاسه دپورنو جیل ته واستول شو او دهغه ځایه داسې خلاص شو چې په تصادفي ډول دچارلس پلار ته د کوم یو نږدې خپلوان میراث لاس ته ورغی او د هغه په حاصلولو سره یې

ځان د پورونو څخه خلاص کړ. د یکــتر په لس کلنۍ کې د کار په لټون پسې د کوره ووت او د بوټونو د رنګ جوړولو په فابریکه کې ځانته کار پیدا کړ. دی دخپل ماشومتوب او ځوانی دورې په دې خاطر په خپلو دغو لاندې رومانونو کې په تفصیل سره لیکي :

1- د اُوید کوپرفیلید

2- کوچنی دوریت

دده رومانونه خلک د وسیلې په شان دظالمانو په مقابل کې استعماالوي او خلک خپل رومانونو کې دیته دعوت کوي چې د بورژوازې دنیا څخه نظم قانون وغواړي دیکــتر پخپلو اثارو کې د غریبو او شتمنو ترمنځ تضادونو ته ګوته نیسي او په خپله هم د غریبانو په کتار کې درېږي . ماکسیم ګورکي دیکــتر په حضور کې د ذرهاوو سرټیټوي او وایي: ((د دیکــتر د هنر سره خلک مینه لري )).

د دیکـــتر محدودیت په دې کې دی چې د هنرمند په عقیده کېدای شي ټولنه ((دسره بیا تربیې)) په مرسته جوړه کړي همدا علت دی چې لیکوال په خپلو رومانونو کې له هرڅه دمخه توصیې ته ډېره پاملرنه کوي. د چارلس دیکــتر په هنر کې څلور مرحلې لیدای شو.

1- 1833 – 1842 کلونه - په دې کلونو کې دیکــتر دغه رومانونه لیکلي دي : الیورتویست ، سرګذشت، نیکلا نیکلبای ښکلی ژوند او داسې نور ....

2- 1842 – 1848 کلونه ـ په دې دوره کې دغه اثار لیکي : مارتین جیز لوپر دوبېې او د هغه زوی .

3- 1848 – 1859 کلونه – په دغه دوره کې د دیکتر هنري اثار موضوع له پلوه ډېر قوي او اجتماعي کرکتر له مخې د نورو دورو له اثارو سره جوخت فرق لري او هغه اثار دادي:

سخت وختونه ، کوچنې ، دوریت او سوړ کور.

4 – 1860 کلونه دوره ده چې په دې وخت کې د کارګرو نهضت په هېواد کې منځ په ځور روان دی. په دې کلونو کې لیکوال د ((لوی امیدونه )) رومان لیکي. ددې دورې په رومانونه کې چارلس تاښیوي ټولنه انتقادوي او عادي خلکو د ژوند مکمله تابلو ترسیموي د لندن دښار دبېوزلو غریبو خلکو ژوند بندي ځانې او داسې نورې ناوړې صحنې لوستونکو ته ورښیي او په عین وخت کې دلندن د ښار دبډایانو کوڅې هم له نظره نه غورزوي او په ډېر ماهرانه توګه د هغوی ژوند ترسیموي ، دی په خپلو اثارو کې غریبانو ته دبډایانو په نسبت په لوړ نظر ګوري. د الیورتوبست ژوند په مرستون کې شروع کیږي دا لا ډېر وړوکی ؤ چې د لوږې او مشکلاتو سره مخامخ کیږي. هغو کسانو چې په دې مرستون کې کار کاوه بې عاطفې خلک ؤ. ماشومان یې وهل اوله هغوی څخه یې ډارن انسانان جوړول. هماغه دی چې الیوپرتوست د مرستون څخه تښتي او دتابوت جوړونکي شاګرد کیږي له هغه وروسته د غلو ډلو سره لار پیداکوي او وروسته له هغه د یو مهربان بډای په کور کې ژوند کوي او هماغه دی چې سرنوښت یې تغیر کوي په دې رومان کې د لیکوال کمزوري داده چې لیکوال په دې اثر کې دانه ښیي چې ټولنه او چاپیریال څرنګه د ي،ه قهرمان کرکتر جوړوي.

د دیکـــتر تر ټولو مشهور اثار دادي:

دا دپرکاپرفیلدر،لیورتریست ،نیکلانیکلبای،براندي راج، سورکور، کوچنی دوریت، د دوو ښارونو داستان او داسې نور ړ. د دیکــتر په هکله رومي مشهور نقاد داسې لیکي : ((دیکـــتر د یوه واقعي هنرمند په شان دغلو قاتلانو دوستي ترسیموي چې دناوړو اجتماعي پیښنو علت ناوړه سیاسي نظام دی . دنیکلا نیکلبای ښکلی ژوند او سرګذشت په رومان کې د انګلستان ژوند ډېر په زړه پورې ښودل شوی دی. د رومان ادبي قهرمان ځوان هلک د پلار د مرګ نه وروسته لندن ته راځي چې دلته دځان له پاره کوم کار پیدا کړي دده سره مور او خویندې هم دي . پیسې هیڅ په جیب کې نه لري دده یواځنی هیله د متو زور دی چې په هغه باندې تکیه او ژوند وکړي. د نیکلای تره چې یو بداې سړی و ولې هغه ډېر بې رحمه انسان ؤ تل به یې غوښتل چې دخپل وراره ژوند د خاورو سره برابر کړي. لیکوال په دې اثر کې تره او وراره د کرکټر له مخې یو دبل په مقابل کې دروي . ولې د اوږدې مبارزې په پایله کې وراره بریالی کیږي د لیکوال په دې اثر کې ادبي قهرمان په ډېر قوت سره په یو ځای کې وایي :

(( هغه غریبان چې پاک وجدان لري دهغو بډایانو چې وجدان نه لري زر ځله غوره دی . ددغه له پاره رومانونه تربیوي اړخ لري لیکوال په دې عقیده دی چې انسان اصلاح کېدونکی دی . او همدارنګه په دغو رومانونو کې د نیکۍ پر بدۍ باندې غلبه پیدا کوي دیکــتر عقیده لري چې ټولنیزه بې عدالتي په خپله لویه ګناه ده . ولې کېدای شي چې هغه هم اصلاح شي . ولې ددې کار له پاره لومړی شرط دادی چې لومړی باید انسان اصلاح شي له سره تربیه شي . په

دې اثر کې لیکوال ډېره هڅه کړې ده چې هیومانیستي ضد څېرې ترسیم کړي . اتلس سوه څلویښت کلونو د دیکـتر دهنر له پاره لوړه او مهمه دوره بلل کیږي . په دې دوره کې د لیکوال ایدیالوژیکي پوخوالی لیدل کیږي چې ښه بېلګه یې د ((دوبي او زوی)) ، ((مارتین چترلور)) رومانونه دي د ((دوبي او د هغه زوی)) رومان د دیکـتر په رومانونو کې ترټولو غوره رومان دی چې په 1840 کالونو کې لیکل شوی دی. په دې اثر کې لیکوال ډېره هڅه کړې ده چې د انګلستان په خپله د هغه وخت ټولنیز روابط په دقیقه توګه ترسیم کړي دي . د رومان اساسي قهرمان په خپله دوبي دي . دوبي یو انګریز سرمایه دار سړی دی . چې یوه ستره کمپنی په لاس کې لري . په دې اثر کې لیکوال د پیسوقدرت چې ټوله نړۍ هغه ته تابع ده ورښیي. د دیکـتر په اند دوبي یو بې رحمه بې عاطفې انسان دی . د ده له پاره د هر څه دمخه د خپل کمپنی انکشاف او پرمختګ ارزښت لري . د ده په اند خپله لور داسې حیثیت لري لکه کلیه پیسې چې په تجارت کې دهغ څخه هیڅ ګټه نه شي اخستل کېدای . دوبي که کومې هیلې او امیدونه لري نو هغه ټول د خپل کوچني زوی په وجود پورې تړلي وه . ولې دغه ماشوم د خپل پلار بې رحمی او ناوړه تربیوي سیستم له برکته وخته مړ شو. دیکـتر د دوبي د کرکتر په ترسیم کې د مبالغې څخه کار اخلي لیکوال لوستونکي د دوبي د کرکتر په لوستنه کې پوخوالي ته متوجه شوی په هغه کور کې چې دوبي اوسیږي له یوه سره له غمه ډک دی او په لوستونکو ناوړه اغېزه کوي حتا تر دې اندازې پورې چې د دوبي کوټې ته دلمر وړانګې هم نه ورننوځي

دليکوال په ترسيم کې د دوبي باطني نړۍ داسې سړه او بې روحه ده لکه دمني سړې ورځې . دوبي عقيده لري چې د نړۍ هرډول قوت يواځې په پيسو کې پروت دی ،سړی کولای شي هرڅه په پيسو واخلي دوبي د ځان له پاره ځوانه ښځه واده کړه ولې هغې ته د ښځې په صفت نه کتل کيږي . بالاخره وتښتېدله . اما د دوبي د کوچني زوی مرګ او دښځې تښتېدنه يواځې دده کمپنی ته اقتصادي ضربه ده اوبس. .

# ملتون

## د ملتون ژوند ليک او دهغه اثار

په اولسمه پيړۍ کې په انګلستان کې بوژوازي انقلاب بريالی شو . همدا علت دی چې اولسمه پيړۍ د نړۍ په تاريخ کې د انګلستان دبورژوازي انقلاب پيړۍ په نامه ياديږي دغه انقلاب دانګلستان د خلکو د ژوند په ټولو برخو کې هر اړخيز بدلون راوست . حتا ويلای شو چې نوموړي انقلاب د اروپا او ټولې نړۍ له پاره ستر ارزښت درلود دا ځکه چې د اولسمې پيړۍ په ادبياتو کې په ښکاره ډول دانګلستان د بورژوازي انقلاب اغېزې ليدل کيږي . ملتون دانګلستان د بورژوازي انقلاب د سترو مبلغينو څخه و، ده په خپلو اشعارو کې داولسمې پيړۍ ټول حوادث په هنري توګه بيان کړي دي . ملتون دبورژوازي انقلاب په ماهيت باندې ښه پوهيده اوپه دې عقيده ؤ چې دغه انقلاب دفيوډاليزم

ګيلم راټ،ل کړ او په نړۍ کې يونوی فورماسين منځ ته راغی همدا علت ؤ چې ده دانګلستان بورژوازي انقلاب ته ستر ارزښت ورکاوه او دنړۍ ټولو خلکوته يې بلنه ورکوله چې دانقلابي انګلستان انقلاب څخه الهام واخلي. ملتوون په کال 1673 زيږديز په يوې بډايې کورنی کې زيږېدلی ده . خپلې لومړنۍ زده کړې د ګورتون په يوه لومړني ښوونځي کې او منځنی زده کړې يې د کيمبريج په پوهنتون کې پای ته ورسولې دي . دده لومړی اثار د (خوشحال) ،(خيالي) منظوم داستانونه او د(ګاموس) ډرامه ده . په (1638 زيږديز) ملتوون په سياحت پيل وکړ ايټاليا ، فرانسه او نورو اروپايي هېوادونو ته يې سفر وکړ. په ايټاليا کې ملتون د نړۍ ستر فزيک پوه ګاليله سره معرفت حاصل کړ دا هغه وخت و چې ګاليله دخپلو سترګو ديد له لاسه ورکړی و او ډېر متأثر ښکارېده چې د ملتون څيره يې په سترګو ونه ليدله. د يو څه مودې سياحت وروسته ملتون په بيږه ببرته خپل هېواد ته راستون شو دا هغه وخت و چې په انګلستان کې بورژوازي انقلاب بريالی شوی و.

کوم رول چې ديني ديدرو ژان ژاک روسو او ولتر د فرانسې د اتلسمې پيړۍ په انقلاب کې درلود ، ملتون هم هماغسې ستر رول د انګلستان دبورژوازي انقلاب په برياليتوب کې درلود. د اولسمې پيړۍ په نيمايي کې ملتون لاندې اثار ليکلي دي:

1- د حقيقي دين په هکله يوه مقاله

2- د طلاق په هکله ملاحظات

3- دښوونې او روزنې په هکله نوي نظريات

ملتون د «پادشاهانو او حاکمانو دندې» په مقاله کې د پادشاه صلاحیت او مسؤلیت یوه حقوقي مسله ګڼي او دا خبره وړاندې کوي چې که پادشاه صلاحیت لري خو مسؤلیت هم باید ولري . همدا علت و چې د انګلستان خلکو دی په پارلمان کې دژبو په هکله په دولتي شورا کې خپل نماینده وټاکه . په 1660 زیږدیز کال کې په انګلستان کې زوړ شاهي مستبد رژیم د قدرت واګې په لاس کې واخیستې په دغه وخت کې ارستوکرتانو غوښتل چې دپخواني رژیم دفعالیتونو څخه خپل انتقام واخلي . په دې وختونو کې ملتون ډېر زوړ شوی و او د سترګو دید یې هم لږ شوی ، اما بیایې هم دلیکلو څخه لاس وانه خیست . د اروپا ډېرو لیکوالانو غوښتل چې دلرغوني یونان منظوم داستانونو په باب داستانونه ولیکي . اما هیڅوک په دې کار بریالي نه شو ، ملتون او دانسته یوائې هغه لیکوالان ؤ دیونان د منظومو داستانونو په شان اثار یې ولیکل . ملتون د ژوند دپای کلونو اثار دادي: ((له ما تللی جنت)) ، ((بیا لاس ته راغلی جنت))، ((منظوم داستان)) او د((مبارز سسان تراژیدي)).

د ملتون په اند نړۍ کې ټول شیان په زړه پورې دي . له یوې خوا لکه نیکي موجوده ده له بلې خوا بدي هم موجوده ده . ملتون د هرډول بې عدالتۍ څخه کرکه لري . دی دانسان د شخصیت درناوی کوي .

# جک لندن

## دجک لندن پيژندګلوي

جک لندن (1916 – 1875 کلونه ) دپاخه او پر کاره سړي په حيث په ادبياتو کې راښکاره شو . دغه امريکايي نامتو ليکوال د سانفرنسسکو په ايلت کې زېږېدلی دی . د ده اصلي نوم جان ګريفت دی خوپه ادبي نړۍ کې د جک لندن په نامه مشهور دی

نوموړی لیکوال د لوستونکو د پراخو پرګنو د تأیید وړ ګرځېدلی دی.

جک لندن په یوې ډېرې غریبې کورنۍ کې زېږېدلی دی خصوصاً د ځوانۍ کلونه یې په ډېرې غریبۍ او بې وزلۍ کې تېرې کړي دي. همدا علت دی چې دده په اثارو کې د بشردوستی لوړ انساني احساس لیدل کیږي. لیکوال د خپل اصلي هېرو په توګه د عامو خلکو له محیط څخه سړی (دبشریت تر ټولو قشرونو) نماینده ګي تمثیلوي کوم چې د خپلې مبارزې ته پورته کیږي. داله قهرماني انقلابي حرارت او بې باکي نه ډک اتلان دی. جک لندن داسې وګړي بیانوي د چا چې زړونه دغریبو خلکو په نسبت چې دخپلو حقونو په نامه پورته شوی دی له کلکې مینې نه ډک دی.))

دجک لندن قهرماني ټول عادي خلک دي او له خلکو له منځه راوتلي دي په خلکو کې لوی شوی دی او د عادي خلکو غوندې کړاوونه یې زغملي دي او معمولاً یې داثارو قهرمانان له نیمه تمدنه او ابتدایي خلکو څخه انتخاب کړي دي. د ده قهرمان هیڅ قوت او نیرو ته نه تمثیلیږي او د ژوند ترپایه پورې مبارزه کوي تر څو چې د یوه نیکمرغه ژوند څښتن شي.

جک لندن چې ذدیوې خوارې کورنی زوی ؤ له وړکتوبه څخه کارکولو ته اړ شو . ډول ډول کارونه یې وکړ هرې خواته دکارپیدا ځې سرګردان ګرځېده خو سره له دې بیا هم دې ټولو هلو ځلو ونه شو کولای چې دی د خوارۍ او غریبۍ څخه وژغوري. د جک لندن اثار دنړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوی دی. ځوانان د ده داثارو سره ډېرو مینه لري . جک لندن هغه لیکوال دی چې د عدالت د ټینګېدو له

پاره يې ټول عمر مبارزه کړې ده په اثارو کې يې د خلکو د خلاقيت او بشري کرامت پوره تمثيل کړي دي . دنړۍ د دغه نامتو ليکوال مړی په 1916 زيږديز کال د سيند په غاړه کې پيدا شو چې د نامعلومو اشخاصو له خوا وژل شوی ؤ.

# دجک لندن اثار

جک لندن هغه ليکوال ؤ چې په ډېر حساسيت سره يې ژوند درک کاوه . ده نه شول کولای چې د زړه له دردونو نه پرته دانسان غم بدبختي او کړاوونه وګوري. ليکوال کوښښ کاوه چې په هر سړي کې د روحياتو پټ لوی والي او شتمني برسېره کړي. جک لندن له زحمتکشانو او په کار اخته کسانو سره ډېره مينه درلوده له عوام فريبۍ او ظاهرسازۍ په نسبت کرکه درلوده اوپه عين حال کې د خلکو د خلاقيت او بشري کرامت تمثيل کړی دی .

د جنوبي سندونو نکلونه دليکوال د ځوانيو کلونو له اثارو څخه شمېرل کيږي چې په نوموړي اثر کې دليکوال د شخصيت اساسي کرښه څرګنديږي او د يوه منل شوي ليکوال په توګه تبارز کوي . دجک لندن ترټولو په زړه پورې اثار دادي :

ميړنۍ ښځه ، د ځنګله غږ، د اوسپنې تابې، مارسن لودين، جدي په جزيره کې، نه پخلاکېدونکې، دژوند سره مينه، سپينه چوپتيل ، طوفان او داسې نور.

د جنوبي سيندونو په اثر کې د ده امريکايي کرکتر او دطبيعت لږ احساس ځليږي د ده قهرمانان هغه خلک دي چې په مريېتوب سره له کاپيتاليستي ښارونو او دهغو له اغوا کونکي ژوند لېرې له

طبيعت سره په مبارزه لګيا دی. دا ترټولو زړه ور غښتلی او په دوستۍ کې ټينګ خلک دي لکه د ده د ((سپينه چوپتيا)) د داستان قهرمان فيرون په شوم باندې چې غټه ونه رالوېدلې ده او سخت ټپي شوی دی خو دی له واورې ډکې بېديا کې بياهم له مرګه څخه نه ويرېږي اوله خپلې ميرمنې او ملګرې ((کيد)) څخه هېله کوي چې د ده په خاطر چې مرګ يې حتمي دی خپل ژوند په خطر کې وانه چوي او زر ځان يوه کلي ته ورسوي.

جک لندن په يوه او بل داستان کې چې ((ميړنۍ ښځه)) نومېږي د يوې فداکارې ښځې ښه انځور کوي چې له لوږې مړه کېږي او غواړي چې ميړه يې د هغه کلي د اوسېدونکو د بد حل خلکو ته رسوي چې ټول په قحطي اخته دي او لوږه د دوی ژوند ته خطر پېښوي. دغه قهرمانه ښځه چې يواځې ميړه لري چې دې ته ډوډۍ پيدا کوي او هغه يې هم ديوه انساني ماموريت له پاره بل ځای ته واستاوه چې د دوی دکلي دقحطي نه خلک خبر کړئ تر څو ورسره مرسته وکړئ په خپله له لوږې څخه مري اوپه دې توګه د نورو خلکو د ژوندانه دبچولو په خاطر خپل ژوند له لاسه ورکوي .

جک لندن ژوند ته په ډېره درنه سترګه ګوري په خپل يوه داستان کې چې ((له ژوند سره مينه)) نومېږي د ژوند کولو له پاره کله اراده د ژوندي پاتې کېدو له پاره ميړانه مبارزه هڅه او په دې ليارة کې زړه ورتوب او شهامت په بشپړه توګه څپې ووهي. په دې داستان کې ښيي چې څنګه يو سړی چې تقريباً د نزاع په حالت کې دی مګر د ژوند له پاره تلاش دی په دې بريالی کړی چې داړونکې ليوه په ده باندې حملې کوي ترڅ، يې له پښو وغورزوي اما بيا هم دی ځان نه

تسليموي او دژوند ترپايه پورې مبارزه کوي. همدارنګه ليکوال په خپل يوه اثر کې چې ((سپينه چوپتيا)) نوميږي ښيي چې يو سړی د دې له پاره چې خپله ازادي وساتي بايد له طبيعت سره مبارزه وکړي اوپه دې لياره کې هيڅ مايوسي حس نه کړي . بلکې په خپل ټول طاقت سره پر مخ ولاړ شي له ټولنيزو ستونزو سره مبارزه وکړي او دخوشحاله هوسا راتلونکې باندې ايمان ولري . د جک لندن په هغه رومان کې چې د ((اوسپنښتابي)) نوميږي ښودل شوی دی يعنې بشريت به په راتلونکې هوسا ژوند ولري د دې هوسا ټولنې دجوړولو په خاطر د بري په لاره کې خامخا ستونزې او خنډونه موجود وي خو په پای کې په ټولنيزو فشارونو باندې د دغه انقلاب بری حتمي دی. جک لندن په خپله ټ،لنه کې د ليکوال ژوند تراژيد ښيي خو سره له دې چې ليکوال (د ډېرو پيسو) خاوند کيږي چې دغه موضوع يې په خپل هغه رومان کې چې ((مارسن يودين)) نوميږي منعکس کړې ده . د جک لندن په اثارو کې په عمومي ډ،ل د غريبو بېوزلو سره مينه دظالمو بډايانو په مقابل کې کرکه او نفرت ليدل کيږي . جک لندن يو اپتي ميست ليکوال دی چې په ځلانده راتلونکې باندې ايمان لري .

# پايلو نرودا

## دپايلود نرودا ژوند ليک

دلته موږ ديو شاعر په باب خبرې کوو او دهغه په شعر خبرې کوو د هغه شاعر په باب چې له نورو ډېرو ممتاز او ځانګړی دی . د هغه

چا په شعر کې چې اوس د نړیوال فرهنګي بهیر یوه برخه ده . هغه دلاتیني امریکي شاعرو نوموړی دچا خبره د ((تاریخ له څنډې)) دنیا ته راغی . په اسیا کې واوسېده داولسونو ژوند یې ولیده کار یې وکړ مینه یې وکړه ښکلا یې وستایله. پسرلي ګلونه او سباوون یې وستایه . ناامیده اوخپه شو. او بیا یې خپګان وستایه اوبیا یې سترګې له نړۍ پټې کړې خو د خپل مرګ په پرون یې ښکلي اوښایسته (دنې) پرېښې،ده په انساني فرهنګ هنر او ادبیاتو کې یې ونډه واخیسته ډېر اثار یې پرېښودل. یو لیکوال دنرودا په باب وایي : ((دشلمې پیړۍ د فرهنګ دځلانده ځیرو په منځ کې دچیلي نامتو شاعر دنړۍ په ادبیاتو کې بې ساری دی. نرودا دامریکې او اروپا د لویو وچو د اسپانیایي ژبې د نظمونو د خورا ښو دودونو وارث اوپه یوه وخت کې دشعر زړور ازمایونکی او نوښتګر دانساني (تلپاتې) ارزښتونو له شور او زور ځخه ډک شاعر اوددې سره جوخت نابغه وینا کوونکی ((چې قلم یې دنیزې په شان په کار واچاوه)) اوپه صداقت سره یې غوره شوې چارې ته خپل ((وفاداره)) اعلام کړه په ژور ډول ملي هنرمند اوپه یوه وخت کې د ((نړۍ تبعه)) و چې په خپلو انځورونو کې یې ټول معاصر بشریت برخلیک اودرمان ته انګازه ورکوله دغه ډول ده دبلبلو نرودا ځیره...))

نرودا دغه د لاتیني امریکي وجداني غږ د ((ایکاردوری ساالتړ)) مستعار نوم دی . چې په 1904 زېږدیز کال کې د چیلي په جنوب کې دپاران په ښار کې زېږېدلی . په هنر مین سړۍ په درې کلنۍ کې له مور ځخه بې برخې شو پلار یې وروسته ژر بل واده وکړ. نرودا خپله دویمه مور دخپل ماشومتوب د دوران پرښته بلله . له هغه وروسته

د نرودا کورنی له پارال څخه تموکو ته ولیږدېده. دپارال په نسبت دتموکو سیمه ډېره مرطوبه او باراني وه . ګڼ ځنګلونه یې درلودل . ښکلي او سمسور طبیعت د نرودا شعر د هغه په رګونو کې راوتخناوه . همدې سیمې او دهمدغه چاپیریال ښکلا بارانونو ځنګلونو او شین شوو بوټو د نرودا په حامي ذهن اغیزه وکړه . نرودا خپل لومړنی اثر په 1923 زیږدیز کال کې په (سانتیـــکا) کې خپور کړ. هغه ددې له پاره چې د اثر د چاپولو او خپرولو لګښت پیدا کړی دی. دخپل کورټول د اړتیا وړ شیان یې وپلورل او له هغه وروسته یې په 1924 زیږدیز کال کې شل عشقي شعرونه او یوه د نامیندی ترانه ولیکله دغه اثر په ډېر زیات تیراژ سره چاپ او په وروسته کلونو کې په زیاتو ژبو وژباړل شو.

نرودا په 1926 کال کې د فرانسوي ژبې زده کړه پریږدي او خپل ټ،ل وخت دادبیاتو مطالعې ته ځانګړی کوي په 1927 زیږدیز کال کې برما ته دسیاسي مامور په توګه راځي او د((ځمکې پرمخ د استوګنې ځای)) په برما کې لیکلی :

په 1920 کال کې چې لا دشپاړسو کالو و دپابلو نرودا نوم یې غوره کړ. دغه نوم د وختونو په تېرېدو سره دشاعر دشخصیت سره یوځای شو او په 1946 کال کې دهغه رسمي هویت وګرځید. پابلو نرودا په 1921 کال کې سانتیاګو ته راغی او دپایتخت دپیداکوژي په انستیټیوت کې یې په زده کړه پیل وک. د انګلیسي او فرانسوي ژبو د زده کړې له لارې ژر د نړۍ والو ادبیاتو سره اشنا شو.

په 1927 کال کې ډیپلوماتیکه دنده ور په غاړه شوه او په برما ، سریلانکا ، اندونیزیا، هندوستان، چین او جاپان کې یې د کونسل او فرهنګي انشه په توګه چارې سرته رسولې .
نوموړې په 1933 کال کې «ځمکه او وطن » په نوم د شعرونو محموعه خپره کړه . شاعر په دې شعري مجموعه کې دټولو هېوادونو د زیارکښانو یوالی غواړي. په 1938 کال کې یې «اسپانیا په زړه کې » اثر په مادرید کې چاپ شو. په 1940 زیږدیز کال کې په مکسیکو کې د چیلي د کونسل په توګه مقرر شو. په 1945 کال کې د چیلي دزیارکښانو له خوا دسنا مجلس ته کاندید شو او وټاکل شو . نوموړی په چیلي کې د ملي جکومت له ټینګېدو وروسته په 1971 کال کې د سفیر په توګه پاریس ته راغی. په 1972 کال دناروغۍ له کبله بېرته سانتیاګو ته راغی . نرودا اته شعري دفترونه او یو دخاطراتو کتاب لري . د ترور او اختناق په شرایطو کې یې «میلیونونو انسانانو ته لیک» تر عنوان لاندې یو سرود ولیکه . دغه سرود په ټولو له لاتیني امریکا کې خپور شو . ددغه « دټولو سرود» له خپرېدو وروسته شاعرته ګواښونه وشول او د ډېرو کړاوونو وروسته له خپل هېواد نه یې هجرت وکړ. په 1952 زیږدیز کال بیرته خپل هیواد ته راستون شو. یو کال وروسته یې دادبیاتونړیواله جایزه واخسته .کله چې په1973 زیږدیزکال کې جنرال بنوشه په مشري په چیلي کې کودتا وشوه .نرودا دناروغۍ په حالت کې ۀ دسپتامبر په پنځمه نیټه په داسې حال کې چې په زرګونوخلکو یې په جنازی کې شرکت کړی ۀ خاوروته وسپارل شو.

# پنځم څپرکی

## دفرانسې ادبيات

## موليېر

### د موليېر پېژندګلوي :

مولیر د فرانسې د ملي کمیډیو بنسټ ایښودونکی دی او د نړۍ د ادبیاتو دکلاسیکې دورې سترلیکوال دی . دی په 1622 زیږدیز کال پّ پاریس کې زېږېدلی پلار یې د هغه وخت غټ سرمایه دار ؤ. همدا علت ؤ چې مولیر په څوارلس کلنۍ کې لیکل او لوستل زده کړل . ده د خپل نیکه له هیلې سره سم پنځه کاله په کالج کې زده کړه وکړه او دځوانی په کلونو کې یې له تیاتر سره مینه پیدا شوه . د مکتب دپای ته رسېدو څخه وروسته د حقوقو په پوهنځی کې شامل شو او دحقوقو په رشته کې یې دیپلوم واخیست . مولیر دخپلو ملګرو سره یوځای په پاریس کې یو لوی تیاتر پرانست اوپه تیاتر باندې یې د مولیر نوم کېښود. څه موده وروسته له هغه مولیر د یوې ډلې اکتورانو سره یوځای د فرانسې بېلابېلو ښارونو ته سفر وکړ. دغه سفر مولیر ته ډېر څه ورزده کړل دا ځکه چې ده دفرانسې د عادي خلکو ژوند له نږدې څخه ولید.

اوپه 1652 زیږدیز کال کې خپل لومړنی ننداره ((د لیونتوب په حالت کې )) ننداري ته وړاندې کړه چې ستر بریالیتوب یې ترلاسه کړ. مولیر د نمایشنامو په لیکلو کې یو مړی د ایټالیایي ډرامه لیکونکو څخه تقلید کاوه خو څه موده وروسته یې له تقلید څخه لاس واخیست او په ځانګړي سبک یې د فرانسې د ملي کمیډیو په لیکلو پیل وکړ اوډېرې په زړه پورې کمیډي یې ولیکلې . په 1658 زیږدیز کال کې مولیر بېرته پاریس ته راستون شو او خپل پاتې ژوند یې په پاریس کې تېر کړ مولیر خپل 14 کلنی ادبي فعالیت کې له 30 څخه زیاتې ډرامې ولیکلې. د مولیر اثاردنړۍ په ادبیاتو کې ستر ارزښت لري . ډرامې یې لاتر اوسه دنړۍ په ګوټ ګوټ کې

د ننداره کونکو له پاره په زړه پورې دی داځکه چې دده په نمایشنامو کې ادبي برخه ډېره قوي ده . مولیر د 51 کالو په عمر په (1673 زیږدیز) له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

په دې وخت کې د فرانسې ستر روحاني مشر خلک د مولیر د تدفین څخه منع کړل او هغه یې د عیسوي مذهب په ضد تورن کاوه. هماغه وه چې دوستانو یې په پټه توګه دشپې له خوا د (سن ژوفر) په هدیره کې خاورته وسپارل شو. مولیر په زړه پورې کمیډي لیکلي چې تر ټ،لو مشهورې کمیډي یې دادي : دان ژال ،خیس ترتوف ، حیله ګرې ښځې، دښځو ښوونځي، د سړیو ښوونځي ، میزان تراب، بېزاره سړی ، دښځو زده کړې او داسې نور . مولیر په خپلو اثارو کې قباحت بې عدالتي تر انتقاد لاندې نیسي . دده اثار نږدې درې پیړۍ د نړۍ په تیاترو کې ښودل کیږي. د یادونې وړ ده چې د کمیډي اساساً د فرانسې کلاسیزم په مجرا کې پویدلي دي. د مولیر کمیډي ډېر قوي او هم ډېرې کمزورې خواوې لري ډېرې قوي خواوې یې د ټیپونو او ټینګو ترسترونو په تصویر کې دی. چې همدغه تصویر د ده په پلان کې لومړی ځای لري .او کمزوری خواوې یې داوې چې داستانونو یې ابتکاري اړخ نه درلود .مولیر په خپلو کمیډیو کې اجتماعي عبرت اونصیحت ته ځای ورکړی اوپه ډیر زړورتیا سره یې دفرانسې داریستوکراتي طبقې عیاشي ،بداخلاقي او دهغه وخت د روحانیانو ریاکاري او تیرایستل ترانتقاد لاندې نیولې .دمولیر دکمیډیو یوه بله ډیره پیاوړې خواد عمل دوحد ت څخه عبارت ده .چې کمیډي دایډیا دحل تابع ده همدا رنګه د

ریالیستکو کمیډیو ترمخه دمولیر کمیډیو ډیرمهم ګامونه ووهل او هغه داچې د روزنې شعارونه پکښې ځای شوي وه .

## مولیر په فرانسه کې د نیو کلاسیزم ظهور:

په 1412 زیږدیز کال کې پاریس ته نږدې د اکتورانو اتحادیې د ننداړو د تولید انحصار په خپل لاس کې ونیو او ددې انحصار په واسطه یې وکولای شول چې پرتمثیلي هنر باندې واکمني وکړي. او د آزاد تیاتر د ودې وخه ونیسي . مولیر په فرانسه کې لومړي نامتو ننداره لیکونکی و چې په خپل لومړني اثر کې یې چې (ملیت) نومیږي . د کلاسیکو قواعدو څخه صرف نظر وکړ بنایي چې دی په کلاسیکو قواعدو نه پوهېده . د ده یو بل شهکار ((توسید)) نومیږي د دې ننداړې داستان په دې ډول دی چې : یو تن ځوان هلک او یوه انجلۍ یو پر بل باندې مین کیږي خو د هغې جګړې له کبله چې ددې کورنیو ترمنځ پیښیږي د دوی په عشق کې خنډونه رامنځ ته کیږي . په تن په جګړه کې هلک د خپل پلار په پلوي دانجلۍ پلار وژني او انجلۍ دهسپانیانو د عنعنې سره سم له هلک څخه د خپل پلار د وینو بدل اخلي . په دغه وخت کې هلک د خپلو نورو هېوادوالو سره د عربو په خلاف جګړه کوي ځکه چې د هسپانیې یوه برخه دعربو له خوا نیول شوې وه ، خو ددې په ځای چې ووژل شي عربو ته ماتې ورکوي د یوه ملي قهرمان حیثیت تر لاسه کوي . انجلۍ که له یوې خوا له هغه سره مینه لري خو له بلې خوا د خپل پلار د وینو بدل او وژل نه هیروي دکسات او بدل اخیستلو په فکر کې ده . له همدې کبله یوتن جنګیالی دخپل مین

سره د تن په تن جګړې له پاره ټاکي . جګړه پیل کیږي او ددې مین بریالی کیږي . په پای کې انجلی دپادشاه د توصیې له کبله نرمي اختیاروي او دخپل مین سره یو ځای کیږي. ددې دورې یوبل ډرامه لیکونکی راسین ؤ چې د (1629 – 1699 زیږدیز) کلونو کې یې ژوند کاوه . دی یو ازاد لیکوال ؤ مطالب به یې په ډېر طبعي ډول بیانول . د ده یو شهکار ((فیدره )) نومیږي چې د ډراماتیکو ادبیاتو په تاریخ کې ساری نه لري . په دغه نمایشنامه کې حرصن تر سخت انتقاد لاندې نیسي او هغه غندي په داسې حال کې چې کورنی او راسین د جدي او ستراتیژیکو نمایشنامو په برخه کې عظمت ته رسېدلی و د ((څوارلسم لویي)) د کومیډي له پلوه ډېر غني و ددې عصر د نامتو او مخکښو لیکوالانو له جملې څخه یو هم مولیر ؤ چې په 1622 کې زیږېدلی او په 1673 کال کې یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي . ده دځوانانو په هغه ډله کې ځان شامل کړ چې د تیاتر شوقیان وو او په پاریس کې به یې دستیج پر مخ نمایشنامې وړاندې کولې. ده هم د 14 لولویی په دربار کې وکولای شول چې دخپلې یوې کمیډي په ښودلو سره چې مینه خوښوونکی طبیب نومیده دپادشاه پاملرنه جلب کړه .

# بالزاک

## دبالزاک ژوند لیک او هنري فعالیت

بالزاک د هغه سترو ریالیستو لیکوالانو څخه دی چې خپله ټولنه یې په واقعي ډول څېړلې او تر انتقاد لاندې یې نیولې ده . په خپله

يې د «ادعا په نوم» ليکنه کې د هغه وخت له ټولو فجايعو او غرضونو څخه پردې پورته کړي او څرګنده کړې يې ده چې دده وخت ټولنه اوس يوې داسې مرحلې ته رسېدلې ده چې هر څوک د ظلم په مقابل کې جګړې ته تيار دي په داسې ډګر اوښتې چې وحشي او بد مرغه ځانځاني په کې خپره ده په داسې ټولنه کې چې هلته افکار او وجدان دپلورل شويو شيانو په څير بدل شوي يعنې دا چې : «په خپلو کړو وړو متکي مه اوسه – هر کله هرچېرې او هرچاچې له تا څخه هغه وغوښتل پرې ويې پلوره » په داسې يوه ټولنه کې چې هرڅه د هرج او مرج په حال کې دي . ثبات موجود نه دی. او په داسې حال کې چې ټولنيزه ارامي او ماليت دشخصي ځواک لاندې وي هيڅ چاته راتلونکی څرګنده نه وي او ټول د يوې نامعلومې راتلونکې له پاره شپې او ورځې تيروي . بالزاک د ليبراليانو د اصل چې : «دنيکمرغي ډېره برخه د ډېرو افراطو له پاره» داسې لغوه کوي چې : « چې د وطن پرستۍ ښست دعامه ګټو قانون دی بايد د ځانځانۍ او خصوصي ګټو د قانون پرځای راشي ».

انوري دې بالزاک د فرانسې ستر رياليست ليکوال په 1799 زيږديز کال کې زيږېدلی او په 1850 زيږديز کال کې مړشوی دی. بالزاک هغه ليکوال دی چې په ډېر مهارت سره يې د فرانسې ټولنيز تضادونه په خپلو اثارو کې منعکس کړي دي او همدا علت دی چې د بالزاک اثار ژوندي او فنا نه منونکي دي او لوستونکي هر وخت او په هره پيړۍ کې ورنه درس او الهام واخلي . د «انساني کوميډي» په نامه مقدمه کې بالزاک خپل ځان «دفرانسې ټولنې دسکرتر» په نامه يادکړی دی. چې د دغې ټولنې د ښو او بدو يو لړ

لیک یې جوړ کړی دی . د دوی د غوښتنو مهمې پیښې یې راغونډې کړي دمتشابهو اخلاقو په راغونډولو یې ټیپونه جوړ کړي او د خویونو هغه تاریخ یې تألیف کړی چې ډېرو مؤرخینو ورته پام نه دی شوی. په همدغه ځای کې لږ وړاندې بالزاک لیکي چې لیکوال د ټولنې ښونکی او معلم دی . د لویو لیکوالانو سره د ترسیم په څنګ کې د روزنې هدف هم موجود وي . همدغه هدف ته د رسېدو په تلاښ کې ادب د خپل موجودیت په اوږدو پیړیو کې د افادې په بېلو بېلو بڼو او شکلونو کله کټ مټ کله د تخیل دنیا کله واقیعت د مبالغې او تخیل سره کله په نورو او نورو شکلونو ځان څرګندوي ترڅو د بشري ټولنې په روزنه کې خپله دند اجرا کړي.

د بالزاک اثار چې ریالیستیکي بڼه لري د بشري ټولنې په روزنه کې خپله دنده سرته رسوي . بالزاک دریالیزم لوی نابغه لیکوال دی دده انساني کمیډي د ریالیزم د مکتب غوره ډالی یا تحفه ده .

بالزاک شل کاله په داستان لیکلو لګیا وه او د ټولو داستانونو اساسي موضوع یې انساني کمیډي وه . بالزاک په داستان لیکلو کې ځانکړی مهارت درلوده. بالزاک د فرانسې د ((تور)) په ښار کې زېږېدلی دی . لومړی په ښونځي کې شامل شو او وروسته یې د حقوقو په څانګه کې تحصیل وکړ. درې کاله یې دوکالت دنده سرته رسولې ده. او وروسته له هغه یې لیکوالۍ ته مخ راواړوه.اما کورنۍ یې نه غوښتل چې دی لیکوال شي دا ځکه چې بالزاک په یوې ډېرې غریبې کورنۍ کې پیدا شوی و. او په پاریس کې یې په بېوزلۍ سره ژوند تېراوه. بالزاک نږدې (9) کاله تراژیدي

داستانونه، رومانونه او سیاسي مقالې ولیکلې اما کوم بریالیتوب ورپه برخه نه شو. یو څه موده یې تجارت وکړ اما بیا هم د هوسا ژوند خاوند نه شو . په کال 1829 زیږدیز د ((شورشیان وانده)) کتاب خپور کړ او یو کال وروسته یې د ((ساغري جرم)) کتاب ولیکه هماغه و چې نوکړو اثارو دبالزاک نوم شهرت ته ورساوه . بالزاک دښځو د توصیف په هکله ډېر داستانونه لیکلي . په خپله بالزاک هم د یوې پولندي انجلۍ ((مادام هانسکا)) سره ډېره مینه درلوده الو نږدې پنځلس کاله یې یو بل ته لیک استاوه او په کلونو کلونو د دوی ترمنځ ملاقات نه کېده ، بالاخره د بالزاک د مرګ نه پنځه میاشتې مخکې د هانسکا سره واده وکړ . ده د ډېرو قرضونو له لاسه په یو شمېر جنایتونو هم لاس پورې کړی دی او څو ځله یې سزا هم لیدلې ده ، بالزاک د فرانسې دهغه مهال سرمایداري او اشرافي ټولنې په هکله وایي: (( هغوی دنیا څرنګه چې د ده په اند کې اخلاق او قانون د بډایانو په هکله بې اغیزې بولي او بډایې ستر محبت بولي . )) بالزاک د خپل وخت په ټولنه کې دتضاد د قانون میخانیکیت ښه څېړلی . ور په ګوته کړی یې ده چې ((نیکي او بدي)) سره اړیکې لري او ژوند هم د (تضاد او نابرابري دقانون) تر اغیزې لاندې دی په خپله بالزاک هم په تضاد عقیده لري نو ځکه چې ((د داستانونو اصل یې نابرابري او تضاد دی د ده په هر داستان کې ښارونه دتضادونو په نښتو او دشخړو په ډګرونو بدلیږي)) بالزاک د((بزګر)) په داستان کې د ډېرو ځمکو خاوندان تر انتقاد لاندې نیولي چې په بې رحمۍ سره غریب بزګران ځوروي بالزاک هغه لیکوال دی چې په یوه ورځ کې یې د 15 – 18 ساعتونو

پورې کار کاوه . د بالزاک تر ټولو په زړه پورې اثار دادي : بابا ګوریو ، ورکې شوې هیلې ، ژنط ګرانده، ساغري جرم، شورشیان وانده، مدست مینیون او داسې نور.

دیادونې وړ دی چې بالزاک اثار د نړۍ پر ډېرو ژوندیو ژبو ژباړل شوي دي او لوستونکي یې په ډېره مینه سره لولي. یوه اقتصاد پوه د بالزاک په هکله وایي: ((د بالزاک نه یې تر ټولو ښه د اقتصاد تاریخ زده کړه ده)). نو رښتیا هم داسې ریالیست لیکوالان د خپلې ټولنې ټولنیزي اړیکې ډېرې ښې تر څېړنې لاندې نیولی شي.

# ویکتور هوګو

## د ویکتور هوګو ژوندلیک

ویکتور هوګو په نولسمه پېړۍ کې د فرانسې دپیاوړي ادبي غورځنګ مخکښ لیکوال ؤ. د هوګو اثار د نړیوال فرهنګ له

سترو ارزښتون څخه ګڼل شوی دی . هوګو د فرانسې ستر اونامتو داستان ليکونکی ټولنيز شخصيت ؤ چې نه يواځې د فرانسې خلکو پورې اړه لري بلکې د نړۍ د څوتنو سترو او نومياليو او ټولنيزو شخصيتونو په کتار کې راځي. دده اثار په نړۍ کې په ژونديو ژبو ژباړل شوي دي . د «بېنوايان» کتاب يې د نوموړي په کتابونو کې شهرت لري . کله چې له ويکتور هوګو څخه چا پوښتنه وکړه بېنوايان چې دفرانسې ستر معاصر ليکوال څوک دی ؟ نو هغه دفعتاً په ځواب کې وويل بدبختانه ويکتور هوګو له سياست سره هم ډېره مينه درلوده اما دسياست په ډګر کې کوم برياليتوب ورپه برخه نه شو . ان تردې چې په ملي شورا کې يې چا خبرو ته غوږ نه نيوه. او کله چې يې ځان رياست جمهورۍ ته نوماند کړ ناکام پاتې شو. هوګو په 1822 زيږديز کال کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې دي دهغه پلار دناپأيون بنا پارت له جنرالانو څخه و هوګو دخپل پلار سره يو ځای دايټاليا او هسپانيا جګړو ته هم تللی ؤ . دې لا ماشوم ؤ چې د نبوغ اثار د هغه په حرکاتو کې ليدل کېده . په اته کلنۍ کې يې په شعر ويلو پيل وکړ او دعالي ماشوم جايزه يې ترلاسه کړه . دهغه وخت مشهور شاعر «شاتوبريان» هغه يوخارق العاده ماشوم وباله. هوګو يو نيکمرغه سړی ؤ چې په ژوند کې يې څه غوښتل هغه په لاس ورغلل په ادبياتو کې يې لوی لاس درلوده چې په هغه وخت کې هيچا ورسره سيالي نه شوه کولای. په ماشومتوب کې هوګو ډېر ضعيف ؤ حتا تردې اندازې پورې چې مور او پلار يې د ژوندي پاتې کېدو څخه نا اميده شوي وو. دی د خپل ماشومتوب دوران په خپل شعر کې داسې تصويروي

((دغه ضعیف ماشوم زه وم چې هرکله به یوائې پاتې شوم پرته له دلیل څخه به مې په ژړا پیل کاوه )). هوګو د ژوند په اوږدو شېبو کې د شعر او شاعرۍ سره مینه پیدا کړه . د هوګو پلار ټول عمر په مسافرت کې تېر کړل او د هوګو په روزلو کې یې کوم رول نه درلود اما معکوساً د ده مور ((مادام سوفیه)) د هوګو په ادبي ژوند کې ستر رول درلود. کله چې مادام سوفیه غوښتل کوم کتاب ولولي نو تر هرڅه دمخه بهیې هغه خپلو زامنو باندې لوسته .سس ده د خپلو زامنو له پاره ځانګړې ښوونکی درلود. هوګو په شپږ کلنی په زده کړه پیل وکړ او درې کاله یې په ښونځي کې زده کړه وکړه او خپل لومړنی اثر یې چې داشعارو مختلف ډولونه ؤ هم په دغو کلونو کې لیکلی. د ده لومړني اثار ((دنوح طوفان))، ((تصادف هم قانون لري ))، ((اسکندونیویان))او یو شمېر نور دي هوګو د رومانتیزم دسبک څخه پیروي کوله او د نومړي مکتب د مخکښانو څخه ده .

هوګو دخپل ژوند ډېره بده خاطره دا ګڼي چې دریم ناپلیون دی د ګزتري جزیرې ته تبعید کړ او نږدې 8 کاله یې په تبعید کې تېر کړل کله چې په 1870 زیږدیز کال کې جکهوري نظام جوړ شو دی پاریس ته بېرته راستون شو او خپل پاتې عمر یې په ډېرې خوښی سره په پاریس کې تېر کړ. بلاخره دنظم دغه لوی استعداد په 1885 زیږدیز کال کې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

## دویکتور هوګو اثار او افکار

ویکتور هوګو هغه لیکوال ؤ چې دغریبو او بېوزلو سره یې ډېره مینه درلوده او همدغه انساني عواطف او هیومانیزم ؤ چې

نوموړی دنړۍ خلکو په منځ کې محبوبیت پیدا کړ. ده په خپلو اثارو کې دفرانسې دخلکو دردونه او کړاونه منعکس کړیدي هوګو په خپله زمانه کې هم ښه شهرت او محبوبیت درلود. اودخپل عصر لویانو او لیکوالانو سره یې ښې اړیکې درلودې . ده یوه شېبه هم له لیکلو لاس وانه خیست اوداسې اثار یې ولیکل چې نړیوال شهرت لري لکه : ((درې نوي)) ، ببېنوایان،((یومحکوم))،((دسند کارګران))، ((اخرنی ورځ))، ((کلودګذا))،((فراري ژان والژن))، ((پوک ژارګال))، ((رهزنانې))،((چنګړه ریسمیدالده))، ((هغه سړی چې خاندي)) او داسې نور....

اوسني کره کتونکي هوګو رښتنم او نثر لوی استاد بولي اوپه دې عقیده دي چې د هوګو اثار تلپاتې شهرت لري د هوګو لوی خدمت دادی چې ده په خپلو اثارو کې دنیمګړتیاوو په مقابل کې دمبارزو سره د بشر دوستی د پرنسیپونو ایډیالونه یوځای کړي دي . هوګو په خپلو اثارو کې ژوند داسې ترسیموي لکه څه رنګه چې باید وي او لکه څه رنګه چې یې دی غواړي نه داسې لکه څنګه چې دی. د ژوند په باب دده د هیلو تصویر او تمثیل کله په چاپیریال کې او لوړو ایډیاو د حصول له پاره په مبارزه کې ترسیموي هیرو یې یو غیر عادي شخصیت وي او غیر عادي قرباني ورکوي. لکه : ((چنګړه ریسمیوال)) او د((فراری ژان والژن))، ((قهرمانان او هیرویان همدارنګه.

دهوګو د اثر په مرکز کې عادتاً یوداسې مبارز او نه ابلېدونکی شخصیت ځای لري چې دفرانسوي ټولنې دچاپیریال نا مطلوبو اړخونو سره موافقه نه شي کولای په خبرو او کړو وړو کې یې

احساسات او اتلتوب څرګندوي او همدارنګه په خپلو اثارو کې د حقايقو تصوير او انعکاس وړاندې کوي اما د ژوند په ټيپيکو پيښو، او حقايقو اتکا نه کوي بلکې په هغو کې استثنااات لټوي.
ويکتورهوګو په خپل اثر ((بېنوايان)) کې د خپلې ټولنې احوال داسې ترسيموي : (ترڅو چې ددغې پيړۍ درې لويې مسلې يعنې د فقر او پرېشانۍ په واسطه دماشوم نيمګړې کېدل حل نه شي... ترڅو چې جهل او فقر حکومت کوي ددې کتاب په شان رومانونه به ګټه ونه لري.)
په کال 1827 زيږديز کې دوهمه ادبي ټولنه جوړه شوی ددې ټولنې مشر پياوړی رومانتيک ليکوال ويکتورهوګو ؤ ده د ((کرمول)) د ډرامې له پاره يوه مشهوره مقدمه وليکله او دغه مقدمه د دې سبب شوه چې ويکتورهوګو د رومانتيسم لارښونکی وبلل شي.
د فرانسې په تياتر کې د رومانتيکو ليکوالانو له خوا څنې مشهورې ډرامې وښودل شوې چې دکلاسيکو ليکوالانو له سخت مخالفت سره مخامخ شوې مخصوصاً په هغه شپه چې د ويکتورهوګو ((هرناني)) ډرامه ښودل کېده. دکلاسيکو او رومانتيکو ليکوالانو ترمنځ سخته نښته وشوه او خبره تردې ځايه ورسېده چې له کوتک څخه کار واخيستل شو. ويکتورهوګو د بوللو په سريزه کې وايي: ( زه پورته نه پوهيږم چې کلاسيک ادبيات او رومانتيک ادبيات څه شي ته وايي. دومره پوهيږم چې ځينو کره کتونکو تصميم نيولی دی چې دلرغونو پيړيو ادبي اثار کلاسيک وبولي او هغه اثار چې په نولسمه پيړۍ کې منځ ته راغلي اوپه دې پيړۍ کې به توسعه ومومي، د رومانتيک په نوم يادکړي)).

# شپږم څپرکی
# دالمان ادبیات
# ګویته

## د ګویته پېژندګلوي:

څرنګه چې زموږ څیړنه د ګویته په هکله ده نو ښه به داوي چې د ګویته د ادبي شخصیت په هکله څه ناڅه خبرې وکړو. د ګویته ادبي اثار دنولسمې پیړۍ په وروستۍ برخه کې په زړه پورې سرنوښت پیدا کړ. او د هغه ادبي اثار دادب په نړۍ کې دلوستونکو ځانګړې پاملرنه ځانته راواړوله اودګویته له اثارو نه په سل ګونو اقتباس شوې خبرې راخیستل شوې مګر کله چې دوهمه نړیواله جګړه پیل شوه (1939 – 1945)د المان په هېواد کې دغې خونړۍ جګړې ټول ادبي اثار له منځه یوړل او دهغه وخت حکومت ټوله پاملرنه جګړې ته وه . حتا د جګړې دپای ته رسېدو نه وروسته هم په لس ګونو کلونو دګویته نوم چا په ژبه وانه خیست او دشاعر نوم په پوره توګه له منځه تللی ؤ اودخلکو په منځ کې داسې انګازې وې چې دګویته ادبي اثار زاړه او لوستل یې خلکوته دومره ضرور نه دي . اما دې خبرو ډېر دوام ونه کړ اودګویتي د ادب د اقبال ستوری نه یوازې په المان کې بلکې په ټوله نړۍ کې یو ځل بیا ځلانده جګړه له سره تیره کړې وه اودنړۍ ټول خلک داتومي خونړۍ جګړې پر ضد راپاخیدلي ،،. ګویته هغه لیکوال او شاعر ؤ چې د جګړې له پیل نه مخکې په خپلو ادبي اثارو کې جګړه او جګړه ماران غندلي وو او په دې ترخ کې یې خپل ادبي رسالت اجرا کړی ؤ ګویته په خپلو اثارو کې جګړه مارانو او د جګړې په هکله وايي:

((پوه انسانان جنګ ته میل نه لري . جنګ تل دانسان په زیان او مهلک مرض دی چې دتاریخ په اوږدو کې یې په زرګونه انسانان له منځه وړي.)) پوهاند وافګانګ فون ګویته په 1749 زیږدیز کال په

يوې اشرافي کورنۍ کې زيږېدلی دی په همدې خاطر ګويته د المان داشرافيو دکورنيو ژوند په هکله پوره معلومات درلودل.
ګويته په داسې وخت کې دادبياتو په ډګر کې قدم کېښود چې ديوروپ هېوادونو په تېره بيا دالمان ، فرانسه او انګلستان روڼ اندو ادبيات د ژوند په ورځنيو چارو کې يوه مهمه وسيله ګڼله کېږي . ګويته په شپاړلس کلنۍ کې لايپزيک ته تللی ؤ او هلته يې په پوهنتون کې د پوهانو لکچرونه اورېدل خودی له دې ګډون نه راضي نه واو دې ليکچرونو دګويته ادبي تنده نه شوه ماتولی.
ګويته په 1769 زيږديز کال کې مريض شو او خپل پلرنی ټاټوبي نه بېرته راستون شو. پوره يو کال ګويته دناروغی په بستر کې پروت ؤ او ورسته له پنځه کاله د هر ((سوک)) کارل او ګوست په بلنه ويار ښار ته لاړ او هلته يې د هغه په دربار کې خدمت وکړ.
ګويته د کارل او ګوست په هکله داسې ليکي : (( کارل او ګوست يو لر اندی سړی نه و خوليکن د زړه رحم يې درلوده. او ډېر نامتو الماني شاعران ليکوالان پوهان يې خپل شااو خوا کې ټول کړي وو)). چې په دغو نامتو اشخاصو کې ويلاند هردرو او شيلر هم شامل وو. ګويته په لومړي سرکې مشاور او وروسته دصدارت چارې ورپه غاړه شوې ، ګويته ظاهراً يو ارام سړی ښکارېده خوبياهم درباري ژوند د ګويته خوښ نه وه دا ځکه چې درباري ژوند دده غوښتنو او نړی ليد سره مطابقت نه درلود. همدا وجه وه چې ګويته په 1786 زيږديز کال د دربار څخه په پټه توګه ايټاليا ته سفر وکړ او هلته يې نږدې دوه کاله زده کړه وکړه او دهغه وخت مروجه علوم يې زده کړل . په ايټاليا کې ګويته ديوې کليوالی

انجلی سره چې جین کریستیاني ولیپوس نومیده واده وکړ. ګویته ددغې بې سوادې کلیوالې انجلی په څیره کې واقعي ښکلا او لطافت لیده. د هغې سره یې د زړه له کومې مینه درلوده. ګویته په 1832 زیږدیز کال کې مړ شو . ګویته په اتلسمې او نولسمې پیړیو کې ژوند کړی دی. دفرانسې د انقلاب ماهیت په درسته توګه درک کړی و او دهغه څخه یې هر اړخیز ملا تړ کاوه. د ګویته مقام له دې نه څرګندیږي چې په 1824 زیږدیز کال کې ځوان الماني شاعر هاینرش هاینه په خپل یوه لیک کې داسې لیکلي و: (( حضرت عالي جناب پوهان وافګانګ فون ګویته ! اجازه غواړم چې څو دقیقې ستاسو حضور کې اوسم زما نوم هایزش هاینه دی. زما یوازینی مطلب دادی چې ستاسې لاسونه ښکل کړم)).

اما ګویته دغه ځوان شاعر خپل حضورته ونه منه . نوموړي شاعر د ګویتې دمرګ نه وروسته نړیوال شهرت پیداکړ.

## دګویته افکار او اثار

ګویته 1600 قطعه شعر ، څو ډرامې او رومانونه لیکلي دي. دی دیوه ځانګړي سبک خاوند ؤ او هغه دا چې بې له کومې واسطې به د خلکو ژوند ته ورګرځیده. ګویته په خپلو اثارو کې دخلکو دژوند هیلې غوښتنې او درمانونه په هنري توګه انځور کړي دي. دده داشعارو ،ډرامو او رومانونو قهرمانان عادي خلک دي او د اثارو زیاتره برخه یې د خلکو دعیني ژوند او دوطن په هکله د موضوعاتو مضامین جوړوي . د ادبیاتو پّ نړۍ کې دګویته اثار په ډېر ښکلي فورم او محتوا لیکل شوي دي . همدا وجه ده چې دده

لیکنې د نړۍ په ادبیاتو کې یو ځانګړی ځای لري او د ادب دمینه والو ځانګړې پاملرنه یې ځانته جلب کړې ده . په کال 1812 – 1814 حدودو کې ) نامتو ختیځ پ،ه شاعر پوژف فون هامر په ډېر زیار او زحمت سره دحافظ شیرازي دیوان په الماني ژبه وژباړه . دغه ژباړل شوی دیوان دګویتې لاس ته ورغی.وروسته له هغه چې ګویته څوځله د حافظ ددیوان ژباړه ولوستله دده داشعارو په اسرارو یې ځآن پ،ه کړ. هماغه وه چې دګویته سره یوه ځانګړې مینه دختیځ دادبیاتو پیداشوه . اوپه دې لټه کې شو چې دختیځ د نورو شاعرانو لیکوالانو په باره کې معلومات پیداکړي او اشعار یې ولولي . ده غوښتل چې د خیال په عالم کې ختیځ ته سفر وکړي او خپل دماغ د ختیځ له شې اب او هوا څخه مستفید کړي. د ګویته په شرقي او غربي دیوانونو کې د ختیځ د شاعرانو ستاینه شوې ده اوپه ځانګړې توګه حافظ د ګویتې په اند تل پاتې شاعردی چې په شرق او په غرب کې لا تر اوسه داسې شاعر نه دی پیداشوی او دنړۍ دملک الشعرا لقب یې ورته ورکړی دی.

کله چې ګویته دفارسي ژبې دشاعرانو او لیکوالانو اثار لوستل نو د دوی استعدادونو ته ګوته په غاښ کېده او دتسلیم سریې ورته ټیټاوه. هغه ویل چې : (( په خراسان کې دپنځوپیړیو په اوږدوکې ي،ازې اوه تنه په زړه پورې شاعران پیداشوي او هغه دادي☹((فردوسي، نظامي، انوري، سعدي ،جامي ،مولانا جلالدین بلخي او حافظ)). ګویته په دې باندې اعتراف کوي چې نوموړي شاعران له مانه ښه شاعران دي. وګوری، هغه څوک چې دده شاعري ټ،له اروپا په لړزه راوستې ده . په ډېرې کمینی، سره

اعتراف کوي چې په نورو ملتونو کې هم داسې شاعران شته دي چې د شعر او شاعرۍ په نړۍ کې له مانه د لوړ مقام خاوندان دي چې دا په خپله د ګويته د ميړانې او کمينۍ نښه ده .

ګويته په خپلو شرقي او غربي ديوانونو کې ي،ه ځانګړې پاملرنه او احترام د حافظ اشعاروته لري او خپل ځان د حافظ مخلص بولي او دده مينه د حافظ د اشعارو سره دومره زياته وه چې حتا خپل اشعار به يې د حافظ داشعارو سره پرتله کول لويه ګناه بلله. خو ښه به داوي چې د ګويته او حافظ د محبت او مخلص والي معما حل کړو. هغه اساسي مطلبچې په دې معما کې پروت دی هغه دادی چې ګويته تل په خپلو اشعارو کې دحافظ د سبک او اهنګ څخه پيروي کړې ده نوله دې کبله ځان د حافظ د سبک يوځآنګړی لاروی بولي . ګويته په ځرګنده توګه اوپه پوره ايمانداری سره دا جوتوي چې د حافظ شعرونه د هغه وخت د ټولنې دعيني واقيعتونو سره سمون لري . او د خلکو دعيني ژوند انځور په کې شوی دی.

د ګويتې په عقيده دحافظ اشعارو لوستونکو ته ي،ه روحي ارامتيا ورکوي دده اشعار په هر وخت او زمان کې معاصر دي او زړښت نه لري .

ګويته په خپل شرقي او غربي ديوانونو کې داسې شعرونه لري چې په هغه کې دده يوشاعر مقام او رسالت په يوه ټولنه کې ذکرکړی دی. او وايي: ((که چېرې شاعر په عيني توګه ديوې ټولنې واقيعتونه بيان نه کړي هغه شاعر نه دی نوله دې خبرو دا جوتيږي چې شاعر تل د خلکو د غوښتنو سره سم شعرونه ووايي او دهغوی

غوښتنې په کې منعکس کړي خو لاښه به داوي چې د شاعر هر قطعه شعر دزمانې دغوښتنو سره سم اودعیني واقیعتونو په پآم کې سره (دژوندانه چاپیریال سیاسي اجتماعي) مسایل په پام کې ونیسي . برسېره پردې دګویټې په شرقي او غربي دیوانونو کې داهم راغلي دي چې دختیځ په پلنه لمنه کې خونړۍ جګړې پیښې شوي دي او پ ّ دغو جګړو په زرګونو انسانان وژل شوي دي او شرقي تمدن یې له منځه وړی دی. همدا رنګه ګویته په خپلو اشعارو کې پر کلیسا باندې انتقاد کوي او هغه څوک چې هلته اوسي ګنهګار یې بولي لکه په دې شعر کې چې ګناه نومیږي هغه داسې لیکي:

هغه

په صومعه کې نه اوسي

ځکه

په اوږو نه وړي

که وختي وي

یاناوخته

بویه:

د ژوندانه له خوږ څخه بې برخې نه شي.

ګویته برسېره پردې چې شرقي او غربي ویوانونه لري نور یوشمېر ډرامې ،نمایشنامې او رومانونه یې هم لیکلي دي خوله ډېرو نمایشنامو څخه چې ګویته لیکلي موږ یوائې دهغه یوه فلسفي منظومه نمایشنامې په هکله چې پرونیته نومیږي ، ترخپلې څیړنې لاندې نیسو. پرونیته یوه منظومه فلسفي نمایشنامه ده چې شاعر په

هغې کې سترتولنیز اجتماعي سیاسي پرابلمونه پورته کوي. دظلم او بې عدالتۍ په هکله خبرې کوي ددې نامتو نمایشنامې لنډیز دادی : پرونیته چې د زیوس په دربار کې ژوند کوي او دپرونیته سره یې دښمني درلوده که څه هم زیوس غوښتل چې دخپل د حاکمیت چارې هغه ته وسپارې . خوبیاهم هغه نه منله او تل یې دبې عدالتۍ او غلامۍ پر ضد مبارزه کوله. په دې نمایشنامه کې ګویته په پوره ځانګړې توګه دپرونیته په هکله وایي:

(( پرونیته یو په زړه پورې پوه انسان دی چې خلک د بې عدالتۍ ظلم ستم په مقبل کې مبارزې ته راپاخ،ي او تل دغلامۍ طوند غندي اود هر زیار کښ انسان ستاینه کوي اما معکوساً زیوس دجهل او نادانۍ سمبول دی)) په دې مانا چې ګویته ظالم او جاهل انسان غندي دګویته دغه اثر چې دعیني واقیعتونو بیانونکی دی ډېر په زړه پورې اثردی . په تأسف سره باید ووایو چې دغه ښکلی اثر دده په ژوندانه کې چاپ نه شو . او لوستونکو ډېر وروسته دغه ولوسته . د ګویته ترټولوپه زړه پورې کتابونه دادي :

ورتر ، فوست ،ایفي، ژنیا ،اګونت، تاسو او داسې نور....

# شیلر

## دشیلر پېژندنه

فریدریک شیلر الماني د لوړ عزت لرونکو شاعرانو څخه ګڼل کیږي. دی په 1759 زیږدیز کال د دورتمبورګ په مارباخ کې زیږېدلی دی. شیلر پلار یو نظامي ډاکتر ؤ همدا علت ؤ چې خپل زوی یې هم د شتوتګات نظامي اکاډمۍ کې داخل کړ نوموړې ښونځی د المان د هغه وخت ډېر ظالم او جابر حاکم هرسوک دورتبورک کارل اوریګن په واسطه تأسیس شوی ؤ. ددې له پاره چې د مطلقیت رژیم له پاره زده کونکي په کې وروزي.

شیلر په همدغه ښ،نځي کې اته کاله زده کړه وکړه او په 1780 زیږدیز کال د نوموړې اکاډمۍ دطب دپوهنځی څخه فارغ شو. وروسته له فراغته د داکتر په حیث مقرر شو.

د دخپلو زده کړو د پیل څخه د تاریخ اوادبیاتو سره مینه درلوده . او په پټه به یې ژان ژاک روسو ، لینګ او شکسپیر اثار لوستل . ده خپل ژوند په ډېره غریبی کې تېر کړی دي.؟ وروسته یې دالمان د مشهور شاعر او لیکونکي ګویته او نورو الماني شاعرانو او لیکوالانو سره وپېژندل همدا علت دی چې د ده او ګویته نوم یوځای سره اخیستل کیږي. دی دالمان په ادبیاتو کې لکه : ګویته دیوه

نوي سبک خاوند دی. دالمان د 19 پیړۍ لوړ او ځلانده ادبیات په ده پورې اړه لري . شیلر خپل لومړنۍ شعري ټ،لګه بې له دې چې خپل نوم پرې ولیکي په کال 1772 زیږدیز کال کې چاپ کړه. کله چې دشیلر ډرامې په تیاتر کېښنداري ته وړاندې کېدې په خپله شیلر به بې دکارل له اجازې نه ګډون په کې نه شو کولای یوځل شیلر بې له اجازې دخپلو ډرامو ننداري ته ولاړ اما کله چې بېرته راغی کارل ورته سخته سزا ورکړه. اما کله چې کارل شیلرباندې خبر شو دهغه ادبي فعالیت یې قطعاً منع کړ. هماغه و چې د سپتمبر په (29) 1782 زیږدیز کال خپل یوه موسیقي پوه (اندري اش شریچر) ملګري سره یوځای د المان جنوبي سیموته وتښتېد. دی په کال 1805 د 46 کلنی په عمر مړ شو او خپل نوم یې دنړۍ په ادبیاتو کې دتل له پاره پرېښود.

# دشیلر اثار او لیکنې

فریدریک هیلر هغه لیکوال دی چې نوم یې په ټوله نړۍ کې مشهوردی. شیلر په 18 کلنۍ کې دلیکوالۍ په لار کې پښه کېښوده او د خپل لومړني اثر په لیکلو یې لاس پورې کړ. په 1787 زیږدیز کال کې شیلر د دون کارلوس تراژیدي ولیکله چې وروسته له هغې یې یو شمېر تاریخي اثار ولیکل. هماغه وه چې په 1788 زیږدیز کال دی د بن پوهنتون پروفیسور تعین شو. وروسته له څه مودې شیلر د ویمار ښار ته سفر وکړ او خپل پاتې ژوند یې هلته تېر کړ د ویمار ښار کې یې په 1790 زیږدیز کال کې واده وکړ په همدغه

ځای کې یې دکانت اثار ولوستل او دګویته سره یې پیژندګلوي پیداکړه . په همدغه ځای کې ګویته دکورنیو چارو وزارت دنده پرمخ بېوله . په همدغه ځای کې دشیلر ادبي فعالیت هم زیات شو. هره ورځ به دویمار ښار په تیاتر کې شیلر او ګویته نمایشنامې ننداري ته وړاندې کېدلې. شیلر د می دمیاشتې په نهمه 1805 زیږدیز کال کې مړ شو . شیلر دځانګړې او روښان استعداد خاوند ؤ، دده داثارو مثبت قهرمانان عادي خلک دي شیلر ډېر په زړه پورې اثار لیکي او ترټولو ممشهور اثار یې دادي : دون کارلوس ، راهزنان، د 30 کلنی جګړې تاریخ،فاجعه، مکرو محبت،بازي طالع، والن اشتین، ماریااستوارت،ویلهم تـل ، باکره اولیاني انجلی، جنایتکار بخاطر نابودي ناموس او داسې نور.

شیلر دجنایتکار به خاطر نابودي ناموس داستان کې د فیوډالي ټولنې جنایات دانسان دشخصیت په مقابل کې ښکاره کوي. ددې داستان قهرمان ته دیوې کوچنۍ ګناه په واسطه ستره سزا ورکول کیږي. او بالاخره له هغه نه قاتل جوړیږي د والن اشتین ماریا استورات ویاهم تل اولیاتي باکره انجلی اثارو اساسي موضوع پاتریونیزم (وطن پرستي) او پردیو څخه کرکه او نفرت دی. شیلر په خپلو لومړنیو اثارو کې د فرانسې د بورژوازي انقلاب نطریات څرګندوي. د استتیک او ښکلا پیژندنې په هکله هم شیلر په زړه پورې اثار لیکلي دي.

د رااهزنان په نمایشنامې کې شیلر په غیر مستقیم ډول د کارل رږیګین ظلم و استبداد ورښیي داثر قهرمان هیله لري چې دالمان سیاسي رژیم ته تغیر ورکړي ترڅو ظالمان له منځه ولاړ شي او یو

جمهوري نظام تأسیس شي . کله چېنومورې نمایشنامه د پاریس په تیاترو کې ننداری ته وړاندې شوه دننداره کونکو ډېره خوښه شوه او دا نظر ورته پیدا شو چې شیلر دخلکو دګټو مدافع دی. د مکر او محبت په اثر کې شیلر د المان دخلکو د ژوند حقیقت څرګندوي. ددې اثر اساسي موضوع د ((فردینانت)) او ((لویزي)) مینه ده . په دغې نمایشنامې کې شیلر د بډایو خلکو ژوند دغریبو او بېوزلو خلکو د ژوند سره مقایسه کوي ځنې محقیقینو دغه نمایشنامه به د 18 پیړۍ تر ټولو په زړه پورې اثر ګڼلی دی . دغه نمایشنامه سیاسي هدف لري هغه دا چې متضاد قوتونه وښیي. دغه نمایشنامه د می په نهمه 1784 زیږدیز کال د بن په تیاتر کې ننداري ته وړاندې شوه چې ستر بریالیتوب ورپه برخه شو داځکه چې ننداره کونکو د ویمار د خلکو د ژوند کړاونه په سترګو ولیدل. ځینې منقدین دشیلر تاریخي ډرامې لکه راهزن ، د 30 کلنې جګړې تاریخ، تارک خیاله شعرونه دده د اتلوالۍ نښه بولي د فرانسې ډرامه لیکونکي په خپلو اثارو کې دشیلر دعقایدو تر تأثیر لاندې دي شیلر د کیش لیکونکي سبک د کلاسیزم مکتب ته نږدې ورته والی لري .